د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# او د خلکو نظرونه

## ۱۴۰۳ لمریز کال

لومړی راپور



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# **او د هېوادوالو نظرونه**

**(د ۱۴۰۳ ل کال لومړی تحلیلي راپور)**


**ناشر:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل ـ افغانستان

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


د څلورو مېلیاردو افغانیو په ارزښت د څلورو پروژو تړونونه لاسلیک شول ........................۱

د ملت سټیل اوسپنې ویلې کولو فابریکې د دوهم او درېیم فازونو پرانیسته ..................۱۰

افغانستان او قزاقستان غواړي چې د اوسپنې پټلۍ نوې شبکه وغځوي ........................۱۸

د هرات – غور سړک د جوړولو چارې پیل شوې ..................................................۲۸

د کرنیزو محصولاتو په دېرشم پسرلني نندارتون کې بېلابېل کرنیز محصولات ... ...........۳۷

پاشدان بند؛ په بشپړېدو به یې د کرنې سکټور پرمختګ وکړي ..................................٤٦

د یو مېلیارد افغانیو په ارزښت درې مهمې پروژې پرانیستل شوې ..............................٥٤

د کابل – جلال اباد دوهم سړک جوړېږي ............................................................٦٢

ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا څلورو میلیاردو افغانیو په ارزښت ۱۴ پروژې... ..........۷۰

له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق پرانیستل شو .........................................۷۹

# د څلورو مېلیاردو افغانیو په ارزښت د څلورو پروژو تړونونه لاسلیک شول



## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت ټولې پراختیایي پروژې په هېواد کې دننه د کورنیو عوایدو له لارې تمویلوي. له دې څخه معلومېږي چې اسلامي امارت د هېواد پرمختګ او په خپلو پښو درېدو ته متې رانغښتې او هڅه کوي له دې لارې اقتصادي ټیکاو رامنځته کړي. د برېښنا کمی د افغانستان لویه او دوامداره ستونزه ده، چې تر دې دمه یې هېڅ حکومت پر حل نه دی بریالی شوی. افغانستان پرېمانه اوبه او د برېښنا د تولید له پاره سرچینې لري؛ خو په هېواد کې د څو لسیزو جګړو او زموږ پر هېواد د بهرنیو یرغلګرو د یرغلونو له امله افغانان نه دي توانېدلي، چې له خپلو روانو اوبو او نورو سرچینو څخه د برېښنا په تولید کې ګټه واخلي. دغه راز زموږ هېواد زیربنایي پروژو ته هم اړتیا لري، ځکه تر هغې چې زیربنایي پروژې عملي نه شي، اقتصادي ټیکاو هم ناشونی دی. په افغانستان کې د امریکایي اشغال له پای ته رسیدو او د افغانستان اسلامي امارت له بیا حاکمېدو سره، د نورو برخو په شان دغو برخو ته هم پوره پاملرنه شوې او د شته ستونزو د حل په موخه هلې ځلې پیل شوې دي. په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان


لمریز کال د ورې میاشتې په پنځمه نېټه د مالیې، اوبو او انرژۍ وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور ترمنځ د شاوخوا څلورو میلیاردو افغانیو په ارزښت د برېښنا د تولید او ساختماني چارو څلورو پروژو تړونونه لاسلیک شول. دغه پروژې د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۳ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، په هرات ولایت کې د دوو سب سټېشنونو جوړول او د ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا مزي غځول، او همدا راز د کابل ښار په کوټې سنګي ساحه کې د ملت سوداګریز مارکېټ او هلمند کې د سوداګریز مرکز او استوګنې اپارتمانونو جوړول دي. پر دې پروژو شاوخوا څلور میلیارده افغانۍ پانګونه کیږي، چې په عملي کېدو سره به یې د هېواد د ملي عوایدو په کچه کې زیاتوالی راشي او سلګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه برابر شي.

## د څلورو مېلیاردو افغانیو په ارزښت د څلورو پروژو د تړونونو د لاسلیک کېدو موخه:

موخه یې په هېواد کې برېښنا د ستونزې حل، خلکو ته د سرپناه برابرول، سوداګرۍ ته پراختیا او د اقتصادي ټیکاو رامنځته کېدل دي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د څلورو مېلیاردو افغانیو په ارزښت د څلورو پروژو د تړونونو لاسلیک کېدو» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزوني د سلني مجموعه:





### يادونه:

پـه دغـه گـراف کې پـه هغـو دولتـي او خصوصي رسـنيو کـې د خلکـو نظرونـو سـلنه ښـودل کېږي چې د څلورو مېليـاردو افغانيـو پـه ارزښـت د څلـورو پـروژو د ترړونونو د لاسـليک کېـدو پـه اړه يـې پـه ويډيويـي، غږيـزه او چاپي بڼـه راپـور خپـور کـړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوگانې





#### ورځپاڼې





#### ويب پاڼې




## آژانسونه





## ویاندویان




## ټویټرپاڼي





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## ویب پاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

***موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:***

۱. **دولتي رسنۍ:** د څلورو مېلیاردو افغانیو په ارزښت د څلورو پروژو د ترونونو د لاسلیکېدو خبر په اړه په دولتي رسنیو لکه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټویټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۰۲۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۹۸۶ مثبت دي. ۳۳ منفي نظرونه او ٦ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹٦ ٪، منفي ۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱ ٪ دي.

۲. **خصوصي رسنۍ:** د څلورو مېلیاردو افغانیو په ارزښت د څلورو پروژو د ترونونو لاسلیک کېدو په اړه په خصوصي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۵۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۱۰ مثبت، ۳٦ منفي او ۱۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۹ ٪، منفي نظرونه ۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹٦، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۹ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۸ او په دولتي هغو کې بیا درې سلنه ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۳۹٦ مثبت نظرونه، ٦۹ منفي نظرونه او ۱۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۴٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۱ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- لمریزه برېښنا هم ګټوره خو که چیرې په اوبیزې برېښنا پانګونه وشي، دا به ډېره ښه وي، ځکه موږ پریمانه اوبه لرو او له دې سره به افغانستان د برېښنا په برخه کې پر ځان بسیا شي.

- ماشاءالله ډېر د خوشحالۍ خبر دی، افغانان دې شکر وباسي، چې اوس د جګړو پر ځای د پرمختګ خبرونه اوري، هیله ده چې سوکه سوکه به نورې ستونزې هم هوارې شي.

- خوک چې دين او وطن ته وفادار وي، په نشته امکاناتو د وطن د آبادولو هڅه کوي، مګر کومو کسانو چې دا جوهر نه درلود، هغوی په شته امکاناتو کې د وطن غم ونه کړ، يوازې د خپل جيب غم اخيستي وو.

- له اسلامي امارت څخه غواړو چې د پکتيا د مچلغو بند د جوړولو له پاره دې اقدام وکړي، ددې بند کارونه په نيمايي کې پاتې دي، که جوړ نه شي کيدای شي ترسره شوي کارونه يې بيرته له منځه ولاړ شي.

- له هر څه مهم د هرات- کابل او ننګرهار- کابل لويې لارې دي چې رغول يې اړين دي، ځکه اوسمهال د يادو سړکونو د خرابيدو له امله په دې لارو زياتې ترافيکي پيښې رامنځته کيږي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ويلي چې که د لمريزي برېښنا پر ځای اوبيزي برېښنا ته پام زيات شي او له خپلو پريمانه اوبو ددې برېښنا د توليد له پاره ګټه پورته شي، نو موږ به په راتلونکي کې د برېښنا په برخه کې کومه ستونزه ونه لرو. دا سمه ده چې افغانستان د برېښنا د توليد له پاره پريمانه اوبه لري او کولای شي له اوبو څخه ۲۳زره ميګاواټه برېښنا توليد کړي، خو په افغانستان کې له لمر څخه هم د ۲۲۳ زره ميګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت شته. اسلامي امارت غواړي له دې دواړو سرچينو څخه د برېښنا د توليد له پاره ګټه پورته کړي او په دې برخه کې هڅې پيل شوې دي. ۱۳۰۴ لمريز کال د ثور مياشتې په نهمه نيټه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال هرات ولايت ته سفر وکړ او هلته يې د دغه ولايت په کرخ ولسوالۍ کې د پاشدان بند پروژې د پاتې چارو بشپړولو پرانيسته وکړه. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له دې امله جوړې شوې غونډې ته د خپلو خبرو پرمهال وويل، اسلامي امارت د هېواد په کچه د ټولو هغو بندونو ارزونه ترسره کړې چې کارونه يې نيمګړي پاتې دي. محترم ملا صاحب زياته کړه، د يادو بندونو د پاتې چارو بشپړولو لپاره جامع کاري پلانونه جوړ شوي چې له مخې يې د ډېرو بندونو عملي چارې پيل شوې دي. د دغو بندونو له جملې يې يو هم د پاشدان بند دی، چې نن يې عملاً کار پيل شو. دا بند او دې ته ورته د برېښنا د توليد نور بندونه يو په بل پسې رغول کيږي. اسلامي امارت غواړي له دې لارې لومړی خپلې اوبه مديريت او ورپسې د برېښنا او کرنې په سکټورونو کې شته ستونزو ته پای ورکړي. دا چې د اوبو څخه د برېښنا د توليد له پاره ګامونه پورته شوي دي، اسلامي امارت په نظر کې لري چې موږ ته الله پاک د راکړي نعمت لمر څخه هم برېښنا توليد کړي، په همدې موخه يې په دې دواړو برخو کې خپلې هڅې ګړندۍ کړې دي.

**دويم**؛ يو شمير کسانو بيا اسلامي امارت او د کابل اداره سره پرتله کړي دي او ويلي يې دي چې څوک دين او وطن ته وفادار وي، په نشت امکاناتو د وطن د آبادولو هڅه کوي، مګر کوم چې دا جوهر نه لري هغوی په شته امکاناتو کې د وطن غم ونه کړ، يوازې د خپل جيب غم اخيستي وو. دا يو حقيقت دی. د اسلامي امارت له راتګ وړاندې د کابل ادارې چې د

بهرنیانو له لوري یې ملاتړ کیده او بې ساري امکانات یې درلودل، د افغانستان له پاره یې هیڅ داسې بنسټیز کار ترسره نه کړ چې له مخې یې د هېواد اقتصاد پرمختګ وکړي. هر چا په حکومت کې ونډه درلوده، شخصي ګټې یې پاللې او ملي ګټو ته یې پام نه کاوه. خو کله چې اسلامي امارت واک ته ورسېد نو لومړی کار چې ترسره شوي هغه د یوه قوي او مرکزي حکومت جوړول و. د قدرت جزیري له منځه ولاړې او اداري فساد ته پای ورکړل شو. د عوایدو له پاره بېلا بیلې داخلي سرچینې ولټول شوې او بیا په سم ډول مدیریت شوې. اوسمهال چې په افغانستان کې کومې پروژې عملي کیږي، ټول د داخلي عوایدو څخه تمویلیږي او اوس دادی د هېواد په کچه د لسګونو زیربنایي پروژو چارې روانې چې له جملې یې د ځینو کارونه بشپړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي. نو له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د هېواد ودانولو او پرمختګ ته پوره ژمن دی.

**دربیم؛** ځینو هېوادوالو وړاندیز کړی او له اسلامي امارت څخه یې غوښتي چې د پکتیا د مچلغو بند د پاتې چارو بشپړولو له پاره دې اقدام وکړي. په رښتیا چې د مچلغو بند یوه مهمه پروژه ده. ددې بند په جوړېدو سره اوبه زیرمه کیږي او کولای شي ۲۳۰۰ هکتار ځمکه خړوبه کړي او د کرنې په برخه کې به د سویل ختیځې حوزې په تیره بیا د پکتیا د خلکو ستونزې تر ډېره بریده هوارې کړي. له دې سره به د اوبو د مدیریت ترځنګ د کرنې په سکټور کې هم پرمختګ راشي چې دا بیا د ملي اقتصاد په وده کې مهم رول ترسره کولای شي. د اسلامي امارت مسوولینو تل په خپلو خبرو کې ویلي چې د هېواد پریمانه اوبو د مدیریت له پاره یې پلانونه چمتو کړي او هڅه کوي چې یو په بل پسې یې عملي کړي. دا چې په ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ کلونو کې د اوبو د مهارولو په برخه کې کومې ستري پروژې پیل شوې، هغه ټولو ته معلومې دي، په روان ۱۴۰۳ لمریز کال کې د ثور میاشتې په نهمه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند هرات ولایت ته د خپل سفر پر مهال په دغه ولایت کې د پاشدان بند د پاتې چارو د بشپړولو پروژې پرانیسته وکړه. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د هېواد په کچه د بندونو په ځانګړې ډول د هغو بندونو د جوړولو له پاره قوي هوډ لري چې چارې یې نیمګړې پاتې دي. نو اوس ویلای شو چې په دې بندونو کې مچلغو بند هم شامل دی او په راتلونکي کې به یې چارې پیل شي او موږ تاسو به یې شاهدان یوو.

**څلورم؛** یو شمیر کسانو بیا په خپلو نظرونو کې د هرات- کابل او کابل- ننګرهار لویو لارو ته په اشارې سره ویلي چې دغه لارې خرابې دي او له امله یې ترافیکي پیښې رامنځته کیږي. د هرات- کابل او کابل- ننګرهار لویې لارې په رښتیا هم مهمې دي، ځکه دغه دواړه لارې د افغانستان ترانزیټي او سوداګریزې لارې دي؛ نو رغول یې هم اړین دي. اسلامي امارت د لویو لارو اهمیت ته په کتو د دغو دواړو لویو لارو د رغونې چارې پیل کړې دي. د کابل- کندهار چې بیا هرات ته غځیدلې ده، له تیر یوه کال راهیسې د بیارغونې چارې پیل شوې چې تر ډېره بریده یې کارونه مخته تللي دي او هڅه داده چې هر څومره ژر کیدای شي ددې لارې د بیارغولو چارې پای ته ورسېږي. دغه راز د کابل- ننګرهار د دویم سړک د جوړولو پر پلان او د پروژې د تمویل لپاره د مالي سرچینې پر پیداکولو کار روان دی.

د دې تر څنګ د ۱۴۰۳ کال د ثور میاشتې په ۱۰مه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د هرات- غور سړک د جوړولو چارې پرانیستل شوې. محترم ملا صاحب هغه غونډې ته چې له همدې امله جوړه شوې وه، د خپلو خبرو پر مهال وویل ،اوس مهال په هېواد کې د لویو لارو د بیارغونې چارې پیل شوې، چې دا دی د هرات – غور سړک عملي چارې هم پیل شوې. دغه سړک د افغانستان له مهمو ملي او لویو پروژو څخه دی، چې د ځمکني ترانسپورټ له لارې هرات، غور، بامیان، دایکندي او میدان وردګ ولایتونه له کابل سره نښلوي. نو اسلامي امارت د لویو لارو په تیره بیا د مهمو ترانزیټي او سوداګریزو لویو لارو جوړېدو ته د خپل کار په سر کې ځای ورکړی دی او بشپړولو ته یې ژمن دی.

## پایله

د هر هېواد واکمنان او مسوولین هڅه کوي چې خپل هېواد له سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پلوه پر خپلو پښو ودروي. ددې چارې ترسره کېدو له پاره لومړی قوي او متین عزم په کار دی. اسلامي امارت په پوره متانت هڅه کوي چې هېواد په هره برخه کې په پښو ودروي. په همدې موخه یې زیربنایي پروژې پیل کړې دي. هر هېواد چې پرمختګ کوي، لومړی یې باید زیربناوې ورغول شي. په خبر کې د یادو څلورو پروژو پیل د همدې لړۍ یوه برخه ده. د دغو پروژو په بشپړېدو سره به نه یوازې لمریزه برېښنا تولید شي، بلکې د سوداګرۍ په برخه کې به پرمختګ هم وشي. ددې ترڅنګ به خلکو ته په معیار برابر استوګنځي هم چمتو شي.

# د ملت سټیل اوسپنې ویلې کولو فابریکې د دوهم او درېیم فازونو پرانیسته



## سریزه

صنعت د معاصر اقتصاد یو مهم سکتور دی، د نن ورځې ژوند پر صنعت او صنعتي تولیداتو څرخي. صنعتي اقتصادي فابریکې او موسسې د یو هېواد په اقتصادي – اجتماعي پرمختیا، د خامو موادو په پروسس او د بهرنۍ سوداګرۍ په بېلانس کې فوق العاده ارزښت لري، له صنعت پرته پرمختګ ناشونی دی. اسلامي امارت د صنعت اهمیت ته په کتو ددې سکتور د غوړېدو او ودې په برخه کې ګامونه پورته کړي دي. اسلامي امارت د صنعت په برخه کې صنعتکارانو ته اسانتیاوې رامنځته کړې دي او په دې برخه کې یې د کورنیو پانګوالو ترڅنګ بهرني پانګوال هم هڅولي دي چې په دې سکتور کې پانګونه وکړي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۳ لمریز کال د وري میاشتې په پنځمه نېټه د ملت سټیل اوسپنې ویلې کولو فابریکې د ګول سیخونو دوهم او اوسپنیزو ګاډرو د تولید درېیم فازونه پرانیستل شول. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د صنعت سکټور د پرمختګ په برخه کې د دغو فازونو پرانیسته او پر فعالیت پیل مهم وبلل او زیاته یې کړه، چې د صنعت سکټور په پرمختګ سره به په هېواد کې اقتصادي پراختیا رامنځته شي. محترم ملا صاحب د اوسپنې ویلې کولو فابریکو مسوولینو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت صنعتي فابریکو ته د دایمي برېښنا چمتو کولو لپاره هڅې کوي او په همدې موخه یې د کورنۍ برېښنا د تولید کچې زیاتولو په موخه پر نورو پروژو سربېره له خصوصي سکټور سره د کابل په سروبي ولسوالۍ کې د شاوخوا ۲۳ مېګاواټه لمریزې تولیدي برېښنا قرارداد لاسلیک کړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوسپنې ویلې کولو فابریکو مسوولینو ته دا هم وویل،


چې اسلامي امارت په کور دننه د خامو موادو چمتو کولو په موخه د هرات ولایت د اوسپنې کان ځلور بلاکونه د داوطلبۍ له لارې کورنیو او بهرنیو شرکتونو ته په قرارداد ورکړل، څو په راتلونکي کې د اوسپنې ویلې کولو فابریکې د خامو موادو له کمښت سره مخ نه شي. محترم ملا صاحب له صنعت سکټور څخه د ملاتړ په پار زیاته کړه، چې اسلامي امارت پر هغو اوسپنیزو توکو تعرفه لوړه کړې ده چې په کور دننه تولیدېږي او د هېوادوالو اړتیاوې پوره کولای شي. نوموړي له ټولو دولتي ادارو او هېوادوالو وغوښتل، چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو پر مهال له کورنیو تولیداتو استفاده وکړي، که څه هم کیفیت یې د بهرنیو تولیداتو په پرتله له لس تر پنځلس سلنې ټیټ وي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلې وینا په پای کې له ټولو صنعتکارانو او پانګوالو وغوښتل، چې د هېواد دننه په مهمو سکټورونو کې پانګونه وکړي او له دې لارې د هېواد په ترقۍ او څان بسیاینه کې خپل مسوولیت اداء کړي.د ملت سټیل اوسپنې ویلې کولو فابریکې په دوهم او درېیم فازونو کې ۵۰ میلیون ډالره پانګونه شوې، چې په ورځني ډول د اوسپنې پټلۍ خطونو، ګول سیخ او ګاډرو سلګونه ټنه تولید ظرفیت لري او شاوخوا ۲۰۰۰ کسانو ته پکې کاري زمینه برابره شوې ده.

## د ملت سټيل اوسپنې ويلې کولو فابريکې د دوهم او درېيم فازونو د پرانيستې موخه:

موخه یې د صنعت سکټور وده او د هېواد صنعتي کېدل دي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د ملت سټيل اوسپنې ويلې کولو فابريکې د دوهم او درېيم فازنو پرانيستې» خبر يې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





## يادونه:

په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ملت ستيل اوسپنې ويلې کولو فابريکې د دوهم او درېيم فازونو د پرانيستې راپور يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

## الف: دولتي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### ويب پاڼې




## آژانسونه





## ویاندویان




## ټویټرپاڼې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې



## آژانسونه





## ورځپاڼې





## ویب پاڼې




## په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه



## د ياد خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

**موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ *او* خصوصي رسنۍ:**

۱. **دولتي رسنۍ:** د ملت سټيل اوسپنې ويلې کولو فابريکې د دوهم او درېيم فازونو د پرانيستې خبر په اړه په دولتي رسنيو کې د تلويزيونونو، راډيوګانو، وياندويانو، ويبپاڼو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۱۰٦۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۰۲۰ مثبت او ۳۵منفي نظرونه دي او ۱۳ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ۹٦ ٪، منفي ۳ ٪ او سالم وړانديزونه۱ ٪ دي.

۲. **خصوصي رسنۍ:** د ملت سټيل اوسپنې ويلې کولو فابريکې د دوهم او درېيم فازونو د پرانيستې خبر په اړه په خصوصي رسنيو لکه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو او خبري اژانسونو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۳۲۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۸۰ مثبت او ۳۴ منفي نظرونه دي او ۱۰ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۸٦٪، منفي نظرونه ۱۰ ٪ او سالم وړانديزونه ۴ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنيو کې د خصوصي رسنيو په پرتله د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه زياته ده. په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹٦ او په خصوصي رسنيو کې بيا دا سلنه ۸٦ ده. خو په خصوصي رسنيو کې بيا د سالمو وړانديزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې د سالمو وړانديزونو سلنه ۴ او په دولتي رسنيو کې دا سلنه ۱ده. که په دولتي او خصوصي رسنيو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۳۰۰ مثبت نظرونه، ٦۹ منفي نظرونه او ۲۳سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۳ ٪ مثبت نظرونه، ۵ ٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- دا د صنعت په برخه کې يو مهم ګام دی، که د صنعتي فابريکو شمير زيات شي، نو زموږ خلک به له ستونزو خلاص شي.
- دا ډول کارونه د وطن د آبادۍ، سوکالۍ او پرمختګ سبب ګرځي.

- که چیرې په بهر کې میشت افغان پانګوال هېواد ته راشي او په دا ډول فابریکو کې پانګونه وکړي، نو افغانستان به ډېر ژر د صنعت په برخه کې پرمختګ وکړي.
- هغه تولیدي فابریکې چې په هېواد کې عملاً فعالیت کوي، دوی باید د خپلو تولیداتو کیفیت ته ډېره پاملرنه وکړي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی**؛ یو شمیر کسانو په خپلو نظرونو کې د اوسپنې ویلي کېدو فابریکې پرانیستې ته په اشارې سره ویلي چې که دا او د صنعت په برخه کې نورې تولیدلي فابریکې فعالې شي، نو په لنډ وخت کې به افغانستان پرمختګ وکړي او خلک به یې له اقتصادي ناخوالو خلاصی ومومي. د دوی نظر پر ځای دی ځکه کورنی صنعت د هېوادونو په اقتصادي وده کې ستره ونډه لري، څومره چې یو هېواد پیاوړی او کورني صنعت یې وده کړې وي، همدومره یې اقتصادي وضعیت هم ښه کېږي. د نورو هېوادونو په شان د افغانستان په اقتصادي وده کې هم د کورني صنعت ونډه مهمه ده. سره له دې چې افغانستان د بشري ځواک، طبیعي زېرمو او سرچینو، کانونو او ځنګلونو له اړخه یو غني هېواد دی او له دې هر څه نه د صنعت په برخه کې پوره ګټه پورته کېدای شي؛ خو د تېرو څه باندې څلورو لسیزو جګړو د نورو برخو په شان زموږ د هېواد دا برخه هم اغېزمنه کړې ده. ولې اوس اسلامي امارت د صنعت سکټور ته پوره پام ور اړولی دی. د صنعتکارانو ملاتړ کوي او د صنعت د ودې له پاره هڅه کوي. همدا لامل دی چې د هېواد پر پلازمېنه کابل سربیره د هېواد په بېلا بیلو ولایتونو کې تولیدي فابریکې فعالیږي او تولیدات کوي. په کندهار کې د سنو فارما په نوم د درملو د تولید ستره فابریکه، په هرات ولایت کې د درملو دوې او یوه د غیر الکولي مشروباتو د تولید فابریکې، ددې ترڅنګ د اوسپنې ویلي کولو فابریکې شته چې تر یوه بریده یې د هېواد د اړتیا وړ توکو په برخه کې ستونزې هوارې کړې دي. له دې څخه دا معلومیږي چې د وخت په تیریدو سره به زموږ هېواد د صنعت په برخه کې پرمختګ وکړي او هېواد به مو د صنعتي کېدو په لور ګړندي ګامونه پورته کړي.

☜ **دویم**؛ ځینو هېوادوالو بیا له بهر میشتو افغان پانګوالو غوښتي چې هېواد ته راشي او دلته دې د صنعت په سکټور پانګونه وکړي، ترڅو هېواد په دې برخه کې پرمختګ وکړي. په رښتیا هم غښتلی صنعتي سکټور د یوه هېواد په اقتصادي پرمختګ کې ستره ونډه لري، له اقتصادي پلوه هغه هېوادونه چې نن سبا په نړۍ کې پرمختللي دي، هغه د خپل صنعتي سکټور په غښتلي کولو سره دې ځای ته رسېدلي دي؛ نو که وروسته پاتې او مخ پر ودې هېوادونه غواړي خپل اقتصادي پرمختګ چټک کړي، دوی باید د خپل صنعت د پرمختګ له پاره پرېکنده ګامونه پورته کړي. مخ پر ودې هېوادونه پریمانه اومه مواد او طبیعي سرچینې لري، خو دا چې صنعت یې کمزوری دی، له همدې امله خپل اومه مواد پرمختللو هېوادونو ته صادروي او هلته دغه اومه مواد په صنعتي توکو بدل او بیرته په همدې هېوادونو په لوړه بیه

پلورل کېږي. اسلامي امارت د صنعت اهمیت درک کړی او په همدې موخه غواړي هېواد د صنعتي کېدو په لور بوځي او د تل له پاره د هېواد اقتصادي ناخوالو ته پای ورکړي او ولس ته د ارام ژوند زمینه برابره کړي.

☜ **درېیم**؛ یو شمیر کسانو بیا په افغانستان کې د فعالو تولیدي فابریکو د تولیداتو کیفیت ته اشاره کړې ده او ویلي یې دي چې دغه فابریکې باید د خپلو تولیداتو کیفیت ته پاملرنه وکړي او په ښه کیفیت تولیدات ولري. اسلامي امارت ټولو مسوولینو په ځانګړي ډول د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملاعبدالغني برادر اخوند تل په خپلو خبرو کې د تولیدي فابریکو له مسوولینو غوښتي چې دوی باید په نړیوالو معیارونو برابر د لوړ کیفیت تولیدات ولري. نو دې ټکي ته د اسلامي امارت پام شته او د کیفیت مسله ورته له هرڅه مهمه ده. دا ربښتیا خبره ده تر هغې چې د کورنیو تولیداتو کیفیت تر بهرنیو هغو لوړ او یا ورسره برابر نه شي، دغه ډول تولیدات بیا ځوک نه پیري او چې ونه پیرل شول، نو بیا تولیدي فابریکې خپله له سقوط سره مخ کیږي. دا بیا د صنعت د پرمختګ پر ځای د صنعت شاتګ ته لا هواروي، نو ښه خبره داده چې صنعتکاران د خپلو تولیداتو کیفیت ته لومړیتوب ورکړي، په دې سره به د دوی تولیدات بازار پیدا کړي او ورسره به د هېواد صنعت پرمختګ وکړي.

## پایله

که یو هېواد هر څومره خام مواد او منابع ولري، خو چې پر تولیداتو د دغو سرچینو د بدلولو ځواک او وړتیا ونه لري، نو بیا به هم نورو ته محتاج او اړ وي. د صنعت په پښو درول ددې کار مخنیوی کوي او یوه ټولنه یا هېواد د اقتصادي ځان بسیاینې او خپلواکۍ پر لوري بیایي. اسلامي امارت د صنعت ارزښت ته په کتنې سره د صنعتي فابریکو د فعالولو په برخه کې د خصوصي سکټور بشپړ ملاتړ کړی او له دې امله اوس مهال د افغانستان په کچه یو زیات شمیر فابریکې فعالې شوې او بېلا بېل توکي تولیدوي. ددې ترڅنګ اسلامي امارت تیر لمریز کال ۱۳ هغه دولتي شرکتونه هم بیرته فعال کړل چې چارې یې په ټپه ولاړې وې. دا ددې ښکارندویي کوي چې اسلامي امارت هڅه کوي څو افغانستان په یوه صنعتي هېواد بدل کړي.

# افغانستان او قزاقستان غواړي چې د اوسپنې پټلۍ نوې شبکه وغځوي



## سریزه

اسلامي امارت هڅه کوي چې له نړۍ، سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره خپلې سياسي، اقتصادي او سوداګريزې اړيکې ټينګې او له دې لارې سياسي، اقتصادي، سوداګريزې او نورې برخې پياوړې کړي. په دې برخه کې لومړی له ګاونډيو هېوادونو سره د اړيکو لړۍ پيل شوې ده. په دغو هېوادونو کې د منځنۍ اسيا، سويلي اسيا او يو شمير نور هېوادونه شامل دي. د اړيکو په دې سلسله کې يو شمير هېوادونه دې ته چمتو شوي دي چې له اسلامي امارت سره د ډيپلوماټيکو اړيکو ترڅنګ سوداګريزې اړيکې هم پراخې کړي. دا لړۍ لا هم روانه ده. په دې لړ کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قزاقستان جمهوريت د لومړي وزير له مرستيال محترم سريک ژومانګارين سره د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د غويي مياشتې په پنځمه نېټه د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل. په دې کتنه کې د دواړو لورو ترمنځ پر سياسي، اقتصادي، سوداګريزو، د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکې غځولو او ترانزيټي مسايلو خبرې وشوې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د افغانستان او قزاقستان اړيکو ته په اشارې سره ووېل، واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د دې فرصت رامنځته شو، چې د دواړو لورو ترمنځ سياسي او اقتصادي اړيکې لا ټينګې او پياوړې شي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، افغانستان تازه له اشغال او جګړو راوتلی، د پرمختګ پر لور يې لومړني ګامونه پورته او د اقتصاد او سوداګرۍ لپاره يې پراخ بنسټونه رامنځته کړي؛ خو سره له


دې هم د کرنې، روغتیا، زېربنا او یو شمېر نورو برخو کې ځینې ستونزې شته، چې په دغو برخو کې د قزاقستان د همکاریو او ګډ کار غوښتنه کوي. ورپسې د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال محترم سریک ژومانګارین واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره په افغانستان کې د شوو پرمختګونو ستاینه وکړه او ویې ویل، دوی د باثباته او پرمختللي افغانستان لپاره له اسلامي امارت سره یوځای کار کوي. نوموړي د افغان – ټرانس پروژه کې له شوو پرمختګونو هرکلی وکړ او زیاته یې کړه، که چېرې د ترکمنستان او افغانستان له لارې له قزاقستان څخه پاکستان ته د اوسپنې پټلۍ نوې شبکه وغځول شي دا به د نورو پروژو په پرتله لنډه او د ښکېلو هېوادونو لپاره اقتصادي تمامه شي او وبه کولای شي، چې د مرکزي آسیا هېوادونه د افغانستان له لارې سویلي آسیا او افغانستان به د ترکمنستان او قزاقستان له لارې له چین او اروپا سره ونښلوي. دغه راز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د قزاقستان جمهوریت د لومړي وزیر د مرستیال محترم سریک ژومانګارین له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په شپږمه نېټه په کابل کې د افغان – قزاق سوداګرۍ فورم هم پرانیستل شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او صنعت د پرمختګ په برخه کې د دغه فورم جوړېدل مهم وبلل، چې په خبره یې، څه وخت مخکې په قزاقستان کې هم ورته فورم جوړ شو، چې په پایله کې یې د دواړو لورو ترمنځ د میلیونونو ډالرو په ارزښت بېلابېل تړونونه لاسلیک شول.د محترم ملا صاحب په خبره، په دغه فورم کې هم د افغانستان او هم د قزاقستان تولیدات او محصولات نندارې ته وړاندې شوي، چې په پایله کې به یې د دواړو هېوادونو صنعتکاران او سوداګر وکولای شي په مختلفو برخو کې تړونونه لاسلیک او یو د بل له تجربو ګټه واخلي.

## افغانستان او قزاقستان د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې غځولو موخه:

موخه یې د سوداګرۍ پراختیا ده. دغه راز به له دې لارې افغانستان وکولای شي خپل تولیدات او محصولات په ارزانه بیه تر نړیوالو مارکیټونو ورسوي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې د «افغانستان او قزاقستان د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې غځولو» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې افغانستان او قزاقستان د اوسپنې پټلۍ نوې شبکې غځولو راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

## الف: دولتي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### ویب پاڼې





### آژانسونه





### ویاندویان



## ټوېټرپاڼې





## په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


## تلويزيونونه




## راډيوګانې





## ورځپاڼې





## ويب پاڼې




## آژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

**موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو:** *دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

**۱. دولتي رسنۍ:** افغانستان او قزاقستان د اوسپنې پټلۍ نوې شبکې غځولو خبر په اړه په دولتي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ټویټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۰۶۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۹۶۷ مثبت دي. ۶۸ منفي نظرونه او ۲۶ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۵ ٪، منفي ۳ ٪ او سالم وړاندیزونه۲ ٪ دي.

**۲. خصوصي رسنۍ:** د افغانستان او قزاقستان د اوسپنې پټلۍ د نوې شبکې غځولو خبر په خصوصي رسنیو لکه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۷۲۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۸۰ مثبت، ۱۱۰ منفي او ۳۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۰٪، منفي نظرونه ۱۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵، په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ۸۰ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۵ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۳ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۵۴۷ مثبت نظرونه، ۱۷۸ منفي نظرونه او ۵۷ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۲ ٪ مثبت نظرونه، ٦ ٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د دې نوې ریل پټلۍ په غځېدلو سره به د افغانستان سوداګري پراخه او افغانستان به په اقتصادي برخه کې پرمختګ وکړي.
- که چېرې د ریل پټلۍ دا نوې شبکه وغځول شي، له کومو ولایتونو چې تیرېږي هلته به د ترانسپورت په برخه کې پوره اسانتیاوې رامنځته او داسیمې به ورسره ابادې شي.

- د نندارتونونو په جوړولو سره به موږ وکولای شو چې خپل توليدات او محصولات نړيوالو ته معرفي او په کور دننه او بهر کې د هغو له پاره ښه مارکيټ پيدا کړو.

- که الله پاک کول يوه ورځ به زموږ هېواد هم د نورو هېوادونو په څير اباد شي او له هېواده تللي خلک به بيرته راستانه شي.

- افغانستان اوسمهال يو امن هېواد دی، هېچا ته امنيتي گواښ نشته، نه د نورو هېوادونو په چارو کې لاسوهنه کوي او نه چاته اجازه ورکوي چې د افغانستان په داخلي چارو کې لاسوهنه وکړي.

- کور دې ودان وي هر هېواد چې په ملي پروژو کې له افغانستان او افغان ولس سره مرسته کوي، همدا د افغانانو دوستان دي. په کار ده چې له دې فرصت څخه افغانان پوره گټه پورته کړي او افغانستان د پرمختگ په لور بوځي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی**؛ ځينو کسانو په خپلو نظرونو کې د نوې اوسپنې پټلۍ شبکې غځولو ته هيله مندي ښودلې او ويلي يې دي چې ددې نوې ريل پټلۍ په غځېدلو سره به د افغانستان سوداگري پراخه او افغانستان به په اقتصادي برخه کې پرمختگ وکړي. افغانستان د نړۍ يو له هغو هېوادونو څخه دی چې سمندر ته لار نه لري. په نړۍ په ځانگړې ډول اسيا کې هغه هېوادونه چې په وچه کې پراته دي، د دوی له پاره تر ټولو غوره، خوندي او ارزانه ترانسپورټي لار د ريل گاډي ترانسپورټ دی. دغه راز دا ډول ترانسپورټ د سوداگرۍ له پاره اړين دی، ځکه ددې ترانزيټي او مواصلاتي زېربنا له رغونې پرته د يوه هېواد سوداگري نه غوړېږي او نه پرمختگ کولای شي. بله دا چې د چټکې سوداگرۍ د ودې لپاره کولای شو د رېل پټلۍ له لارې د سيمې او نړۍ گڼو سوداگريزو مارکېټونو ته ځان ورسوو او پرته له دې موږ نه شو کولای د سيمه ييز اتصال تر عنوان لاندې د سيمې او نړۍ له سترو اقتصادي او سوداگريزو بازارونو سره وصل شو. اسلامي امارت همدې ټکي ته په کتو هڅه کوي چې هېواد د ريل پټلۍ له لارې لومړی د سيمې بيا د نړۍ له نورو هېوادونو سره ونښلوي. په همدې موخه اسلامي امارت دا مهال د خواف- هرات په ريل پټلۍ کار کوي، د افغان- ټرانس مهمې ريل پټلۍ له پاره چمتوالی نيسي او د سرحد آباد – تورغندۍ ريل پټلۍ او د ترمز – مزارشريف اورگاډي پټلۍ خو فعالې دي او هر ورځ پرې انتقالات ترسره کيږي. نو که د ريل پټلۍ دا نوې شبکه هم وغځول شي په دې سره به له يوه لوري زموږ سوداگري نړيواله شي او له بل لوري به افغانستان د اسيايي هېوادونو په مرکز بدل شي.

☜ **دويم**؛ يو شمير کسانو په خپلو نظرونو کې د نندارتونونو اهميت ته په کتو سره ويلي دي چې د دا ډول ننداراتونونو په جوړېدو سره به موږ د خپلو توليداتو له پاره بازار پيدا کړو. ننداراتونونه ددې له پاره جوړېږي چې د يوه هېواد صنعتي او

کرنيز محصولات دواړه خلکو ته معرفي شي. حکومتونه هڅه کوي چې د خپلو محصولاتو له پاره په کور دننه او بهر کې د بازار موندلو په موخه نندارتونونه جوړ کړي. نندارتونونه د محصولاتو د معرفي کېدو ترڅنګ د سوداګرۍ د غوړېدو او ودې له پاره تر ټولو غوره لار ده او له دې لارې کولای شو محصولات خلکو ته وړاندې او سوداګر دې ته وهڅو چې په دې برخه کې پانګونه وکړي. کله چې د محصولاتو او صنعتي توليداتو په برخه کې پانګونه وشي، نو بيا له شک پرته چې د هېواد اقتصاد وده کوي او هېواد د پرمختګ په لور ګامونه پورته کوي. اسلامي امارت هم د افغانستان د صنعتي توليداتو او کرنيزو محصولاتو د معرفي کېدو له پاره په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړولو لړۍ پيل کړې ده. تير لمريز کال په قزاقستان، ترکمنستان او ترکيه کې نندارتونونه جوړ شول او سږ کال بيا دادی د افغان- قزاق نندارتون په افغانستان کې جوړ شو. د دغو نندارتونونو په پای کې د افغان سوداګرو او د يادو هېوادونو د سوداګرو ترمنځ د مېليونونو ډالرو په ارزښت تړونونه لاسليک شول. په پايله کې ويلای شو چې اسلامي امارت غواړي خپلو توليداتو او محصولاتو ته مارکيټ پيدا او خپله سوداګري لا پراخه کړي. په دې سره بيا د هېواد ملي اقتصاد وده کولای شي.

☜ **درېيم؛** ځينو هېوادوالو بيا په خپلو نظرونو کې د افغانستان امنيت ته په اشارې سره ويلي چې په افغانستان کې اوسمهال مثالي امن راغلی او له همدې امله يو شمير هېوادونه له دې فرصت څخه په استفادې سره غواړي له افغانستان سره خپلې اړيکې پياوړې او د افغانستان له موقعيت څخه ګټه پورته کړي. خپله سوداګري پراخه کړي. د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې د امنيت د ټينګښت ترڅنګ يو قوي مرکزي حکومت هم رامنځته شوی دی. د هېواد د زيربناوو جوړولو، سوداګرۍ پراختيا، کرنې او صنعت سکټور د ودې له پاره په پراخه کچه هلې ځلې روانې دي او په تيرو څه کم درېيو کلونو کې دې برخو کې زيات پرمختګونه رامنځته شوي دي. له ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره د سياسي اړيکو په خوا کې اقتصادي او سوداګريزې اړيکې هم پراخې شوې دي. له همدې امله د منځنۍ اسيا د نورو هېوادونو په خوا کې قزاقستان هم غواړي چې په افغانستان کې د راغلي امنيت څخه په استفادې سره خپلې اړيکې لا پراخې کړي. دا اړيکې نه يوازې دا چې د افغانستان له پاره ګټورې تماميدای شي، بلکې د يادونو هېوادونو له پاره هم ګټورې دي، ځکه د منځنۍ اسيا هېوادونه طبيعي زيرمې او له هغې جملې تيل او ګاز لري او د اسيا يو شمير نور هېوادونه بيا همدې توکو ته اړتيا لري. افغانستان د اسيا په داسې يوه نقطه کې پروت دی چې کولای شي د دغه هېوادونو ترمنځ د ځمکې له لارې د ترانزيټ زمينه برابره کړي. له دې څخه معلومه شوه چې د دغه هېوادونو او افغانستان ترمنځ اړيکې او يا هم دلته د بنسټيزو پروژو په عملي کېدو سره به دغه هېوادونه د سوداګرۍ په برخه کې زياتې لاسته راوړنې ولري او له دې سره به يې اقتصادي وده لا ګړندۍ شي.

## پایله

حکومت اړ دی چې خپلو خلکو ته د پرمختګ، هوساینې او سوکالۍ زمینه برابره کړي. په دې برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي او ملت ته دا وښيي چې د یو مسوول په توګه ژمن دی چې په ټولنه او هېواد کې په اقتصادي، ټولنیزو او دې ته ورته نورو برخو کې شته ستونزو ته حل لاره پیدا او د پرمختګ له پاره یې چټک ګامونه پورته کړي. په دې برخه کې له ګاونډیو هېوادونو او په ټوله کې له نړۍ سره اړیکي ټینګول ضروري دي. افغانستان چې له کلونو را هیسې له بحران، جګړې او بهرني یرغل سره لاس او ګریوان و، دې ناخوالو نه یوازې دا چې د هېواد اقتصادي شیرازه له منځه وړې ده، بلکې په سیاسي او ټولنیزو برخو کې یې هم افغانستان له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی. اوس چې اسلامي امارت واک ته رسیدلی دی، هڅه یې داده چې افغانستان له دې کړکیچونو راوباسي او په اقتصادي لحاظ یې په پښو ودروي. ددې ریل پټلۍ په غځېدو سره به افغانستان د سوداګرۍ په برخه کې زیات پرمختګ وکړي او له دې لارې به د نړۍ مهمو مارکیټونو ته ځان ورسوي. له دې سره به اقتصادي وده ګړندۍ شي.

# د هرات – غور سړک د جوړولو چارې پیل شوې



## سریزه

د هېواد د پرمختګ له پاره د ترانزیټي زیربناوو لکه، لویو لارو، سړکونو، ریل پټلۍ، هوایي دهلیزونو او هوایي ډګرونو ته زیاته اړتیا ده. د دې ترانزیټي او مواصلاتي زیربناوو له رغونې او جوړونې پرته د یوه هېواد پرمختګ ناشونی دی. همدارنګه، داسې زیربناوې رامنځته کول په هېواد کې ثبات، زیاتې پانګونې، کارپوهانو، مدیرانو، ښې دولتي پلانګذارۍ او نورو ته اړتیا لري. که په یوه هېواد کې دا کارونه سم مدیریت او سم پرمخ لاړ شي؛ نو د هغه هېواد په اقتصادي وده کې زیات رول لري. د اسلامي امارت په راتګ سره په هیواد کې امنیت او ثبات رامنځته او د پانګونې له پاره اسانتیاوې برابرې شوې دي. دغه راز کومې پروژې چې تر دې مهاله په افغانستان کې پیل شوې دي، مدیریت یې په سم ډول ترسره شوی دی او کومه ستونزه نه ده پکې رامنځته شوې. په همدې موخه محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات – غور سړک د جوړولو چارو پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په لسمه نېټه د هرات – غور سړک د جوړولو چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وویل، د ترانسپورټ سکټور د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري او اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو، یاد سکټور په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی، چې د پراختیا او اساسي جوړونې په موخه یې له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره پرله‌پسې مجلسونه دوام لري.محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت په راتګ سره عملاً د لویو


لارو د بيارغوني کارونه پيل شوي چې له جملې يې دا دي د هرات – غور سړک د عملي چارو پرانيسته کوو. دغه سړک د افغانستان له مهمو ملي او لويو پروژو څخه دی، چې د ځمکني ترانسپورټ له لارې هرات، غور، باميان، دايکندي او ميدان وردګ ولايتونه له کابل سره نښلوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، د دغه ترانسپورټي دهليز په مسير کې د مالګې او مرمر ډېرو کانونه هم شته چې بشپړېدل به يې د سوداګرۍ د پراختيا او سيمه‌ييز ترانزيټ په برخه کې مهم رول ولوبوي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د غور ولسونو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت شته امکاناتو ته په کتو هڅه کوي، چې په دغه ولايت کې نورې پروژې هم پلې کړي.

## د هرات – غور سړک د جوړولو چارو د پيلېدو موخه:

موخه يې د سوداګرۍ پراختيا ده. خلکو ته د ترانسپورټي اسانتياوې برابرول او د ځمکې له لارې له يو بل سره د يو شمير ولايتونو وصل کول دي.

## په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د هرات – غور سړک د جوړولو چارو د پيلېدو» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د هرات – غور سړک د جوړولو چارو د پيلېدو راپور يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوګانې





#### ورځپاڼې





#### آژانسونه




## ويانډويان





## ټويټرپاڼې




## ويب پاڼې





## په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلويزيونونه





## راډيوګانې




## ورځپاڼې





## ويب پاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

**موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو:** دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

**۱. دولتي رسنۍ:** د هرات – غور سړک د جوړولو چارو د پیلېدو خبر په اړه په دولتي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۱۲۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۰۸۴ مثبت او ۳۵منفي نظرونه او ۱۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۶ ٪، منفي ۳ ٪ او سالم وړاندیزونه۱ ٪ دي.

**۲. خصوصي رسنۍ:** د هرات – غور سړک د جوړولو چارو د پیلېدو خبر په اړه په خصوصي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۵٦ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۷۹ مثبت او ۵۱ منفي او ٢٦ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸٦٪، منفي نظرونه ۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹٦او په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ۸٦ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۹ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۳ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۵٦۳ مثبت نظرونه، ۸٦ منفي نظرونه او ۳٦ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۳ ٪ مثبت نظرونه، ۵ ٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- مرکز میمنې څخه بیا تر هرات پورې سړک ته دې هم پاملرنه وشي، کلونه کېږي چې دې سړک ته چا پاملرنه نه ده کړې، مسافر له بې شمیره ستونزو سره لاس او ګریوان دي.
- د وطن د ابادۍ زېری دې لا ډېر شي، خو د کونړ او نورستان لار چې ډېره خرابه شوې باید کارونه یې پیل شي، ځکه د نورستان ترڅنګ د کونړ د څلورو ولسوالیو خلک د همدې لارې د خرابېدو له امله له ګڼو ستونزو سره مخ دي.
- کوم کار چې د کابل تیرې اداري په ۲۰ کالو کې ونه شو کړای، اسلامي امارت یې په درېیو کلونو کې په اړه اقدام وکړ.

- د زیربنایي پروژو پیلول د اسلامي امارت ستر بریالیتوب دی، خو که په دې برخه کې د کابل د شاتوت بند ته هم پاملرنه وشي، نو ښه به وي، دا بند د اوبو د زېرمه کولو ښه ظرفیت لري.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی**؛ ځینو کسانو په خپلو نظرونو کې د هرات- غور سړک د جوړولو هرکلی کړی دی. دوی د کابل تیرې ادارې ته په اشارې ویلي چې هغه مهال په دې سړک څو ځلې کار پیل شو، خو بیرته به پاتې شو. د هرات- غور سړک چې څو ولایتونه له کابل سره نښلوي، سوداګریز او ترانزیټي اهمیت یې زیات دی. خو دا چې د کابل د تیرې ادارې پر مهال سره له دې چې افغانستان ته په میلیاردونو ډالر راغلل ولې بیا هم دا مهم سړک جوړ نه شو، لامل یې روښانه دی. هغه مهال اداري فساد اوج ته رسیدلی و، د قدرت جزیرې موجودې وې، هر زورواکي په حکومت کې ونډه درلوده، نو ددې ټولو په شتون کې بیا د داسې اساسي پروژو عملي کېدل څنګه امکان ولري؟ اوس خو په افغانستان کې یو قوي او مرکزي حکومت دی. فساد نشته او زورواکي پای ته رسېدلې ده. تر ټولو مهمه دا چې د اسلامي امارت مسوولین ټول په دې هڅه کې دي چې افغانستان په هر برخه کې په پښو ودروي. نو ځکه خو یې لومړیتوب زیربناوو ته ورکړی دی. په دې زیربناوو کې سړکونه او لویې لارې زیات اهمیت لري. تر هغې چې موږ لویې لارې او معیاري سړکونه ونه لرو، تر هغې نه شو کولای پرمختګ وکړو. اسلامي امارت دې ټکي ته په پاملرنې سره هڅه پیل کړې ده چې لویې سوداګریزې او ترانزیټي لارې ورغوي، چې په هغو کې یو هم د هرات – غور سړک دی چې په دې وروستیو کې یې د بیارغونې چارو پرانیسته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري وشوه. محترم ملا صاحب په دې اړه وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره عملاً د لویو لارو د بیارغونې کارونه پیل شوي چې له جملې یې دا دی د هرات – غور سړک د عملي چارو پرانیسته کوو. دغه سړک د افغانستان له مهمو ملي او لویو پروژو څخه دی، چې د ځمکني ترانسپورټ له لارې هرات، غور، بامیان، دایکندي او میدان وردګ ولایتونه له کابل سره نښلوي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د هېواد پرمختګ ته ژمن دی او غواړي هغو برخو ته لومړیتوب ورکړي چې کولای شي افغانستان اقتصادي ثبات ته ورسوي.

☜ **دویم**؛ یو شمیر کسانو په خپلو نظرونو کې د فاریاب مرکز میمنې څخه بیا تر هرات پورې د غځېدلي سړک د جوړولو غوښتنه کړې ده. دوی ویلي چې دغه سړک ته چا پاملرنه نه ده کړې، مسافر له بې شمیره ستونزو سره لاس او ګریوان دي. د دوی غوښتنه پر ځای ده. د ولایتونو او بیا په ولایتونو کې د ولسوالیو ترمنځ د سړکونو په جوړولو سره د خلکو ستونزې تر ډېره بریده را کمېدای شي. له دې سره په خوا کې په ولایتونو کې چې کوم کرنیز محصولات دي، هغه په اسانۍ سره د ولایت تر مرکز پورې رسول کیدای شي. له دې سره د بزګرانو اقتصادي وضعیت ښه کیدای شي. که چیرې موږ او تاسو معیاري سړکونه ولرو، نو بیا موږ کولای شو د سوداګرۍ په برخه کې هم پرمختګ وکړو، کرنیز او نور

محصولات پر وخت تر مارکیټ پورې ورسوو. اسلامي امارت دې ټکي ته متوجه دی، نو ځکه یې ترانسپورټ ته په خپلو لومړیتوبونو کې ځای ورکړی دی. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هرات – غور سړک د جوړولو چارو پرانیستغونډې ته وویل، د ترانسپورټ سکټور د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لري او اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو، یاد سکټور په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی، چې د پراختیا او اساسي جوړونې په موخه یې له ګاونډیو او سیمې هېوادونو سره پرله‌پسې مجلسونه دوام لري. د اسلامي امارت له راتګ وروسته بیا تر دې مهاله د هېواد په بېلا بېلو ولایتونو کې پر سړکونو او لویو لارو کار روان دی. خو په دې لنډه موده کې د افغانستان د ټولو سړکونو جوړول او د هغو له پاره بودیجه پیدا کول یو څه ستونزمن کار دی. اسلامي امارت لومړیتوب هغو سړکونو ته ورکړی دی چې سوداګریز او ترانزیټي ارزښت یې لوړ دی او ورپسې به هغه سړکونه چې کولای شي د خلکو د تګ او راتګ له پاره اسانتیاوې برابرې کړي، جوړ کړي. نو د فاریاب له مرکز میمنې څخه تر هرات پورې سړک به هم د بودیجې او امکاناتو په برابرېدو سره جوړ او په دې برخه کې به د یادې سیمې خلکو ته اسانتیاوې رامنځته شي.

☜ **دربیم؛** ځینو هېوادوالو بیا په خپلو نظرونو کې د زیربنایي پروژو پیلول د اسلامي امارت ستر بریالیتوب بللی دی، دوی ویلي چې که د کابل د شاتوت بند ته هم پاملرنه وشي، نو ښه به وي، دا بند د اوبو د زیرمه کولو ښه ظرفیت لري. اوبه هېوادونو ته حیاتي اهمیت لري. نو ښه خبره داده چې د هېواد په کچه د اوبو مهارولو له پاره لوی او کوچني بندونه ورغول شي. د اوبو بندونو جوړول زیات لګښت ته اړتیا لري، خو د سطحي اوبو، تر ځمکه لاندې اوبو د زېرمو تغذیه او د اوبو د بې ځایه لګښت له پاره اړینه ده چې بندونه جوړ او یا هغه بندونه چې پخوا جوړ شوي، خو چارې نه دي بشپړې شوې، د هغو پاتې چارې بشپړې شي. د کابل شاتوت بند هم یو له هغو بندونو څخه دی چې د اوبو زېرمو کولو ښه ظرفیت لري. که چیرې دا بند جوړ شي نو په کابل کې به د څښاک اوبو په برخه کې شته ستونزې تر یوه بریده راکمې شي او له دې سره به ددې ښار تر ځمکه لاندې اوبو زېرمې تغذیه شي، ځکه اوسمهال په کابل کې تر ځمکه لاندې اوبو کچه ډېره زیاته ټیټه شوې ده او د ښار زیاتره اوسیدونکي د څښاک د پاکو اوبو د برابرولو په برخه کې له ستونزو سره مخ دي. اسلامي امارت په دې برخه کې ګامونه پورته کړي. اسلامي امارت پلان لري چې د پنجشیر سیند څخه کابل ښار ته د څښاک پاکو اوبو پایپ لاین راولي. ددې لومړۍ سروې هم بشپړه شوې او په راتلونکي کې به یې وروستۍ سروې تکمیل او عملي چارې به یې پیل شي. بله دا چې د کابل اړوند یو بل بند چې شاه عروس نومیږي، د هغه چارې بشپړې شوې دي او سږ کال خو یې کاسه هم له اوبو ډکه شوې ده. اسلامي امارت د هغو ټولو بندونو د جوړولو پلان لري چې چارې یې نیمګړې دي، نو په دې کې د کابل شاتوت بند هم شامل دی. همدا اوس د هرات د پاشدان بند، د کونړ د مناګي بند، د کمال خان او بخش اباد بندونو کار روان دی او ډېر ژر به یې پاتې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

## پایله

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د حمل او ثور په میاشتو کې شاوخوا ۱۷ پروژې پرانیستل شوې. دا پروژې د صنعت، ترانسپورټ، اوبو مدیریت او زیربنا په سکټورونو کې وې. له دې پروژو څخه یوه هم د هرات- غور سړک و چې د جوړولو کارونه یې پیل شول. دا یو مهم سړک دی او د ځمکني ترانسپورټ له لارې هرات، غور، بامیان، دایکندي او میدان وردگ ولایتونه له کابل سره نښلوي. ددې سړک په جوړېدو سره به له یوه لوري د هرات او کابل ترمنځ واټن راکم او مسافرو ته به اسانتیاوې رامنځته شي او له بل لوري به له دې لارې د سوداگرۍ له پاره هم گټه پورته کیږي. څکه له دې لارې کولای شو چې خپل سوداگریز توکي د سیمې هېوادونو مارکیټونو ته په لنډ وخت او کم لگښت ورسوو. همدا چې زموږ سوداگریز توکي په وخت او کم لگښت بهرنیو هېوادونو ته ورسیږي، نو زموږ سوداگري به لا پراخه او اقتصاد به مو ورسره پرمختگ وکړي.

# د کرنیزو محصولاتو په دېرشم پسرلني نندارتون کې بېلابېل کرنیز محصولات ننداري ته وړاندې شول



## سریزه

کرنه هم د نورو سکټورونو په څېر د یوه هېواد له پاره ځانګړی اقتصادي ارزښت لري. په افغانستان کې له ۵۰ سلنې زیات وګړي په همدې سکټور کې په کار بوخت دي. دغه راز کرنه یو له هغو عایداتي او تمویلي سرچینو څخه ده چې د افغانستان په کلیو او بانډو کې میشت وګړي پرې خپل ژوند تیروي. د افغانستان اسلامي امارت په واکمنیدو سره د نورو اقتصادي برخو ترڅنګ د کرنې سکټور ته هم پوره پاملرنه شوې ده. په دې برخه کې د کرنیزو محصولاتو نندارتونونه جوړ شوي او موخه یې دا وه چې د افغانستان کرنیز محصولات په کور دننه هېوادوالو او په بهر کې د جوړو شویو نندارتونونو له لارې نړیوالو ته معرفي کړي. د نندارتونونو جوړېدو په لړ کې د کرنیزو محصولاتو دېرشم پسرلنی نندارتون د ۱۴۰۳ کال د ثور په ۱۲مه نېټه د کابل په بادام باغ څېړنیز فارم کې جوړ شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د نندارتونونو ارزښت ته په اشارې سره وویل، حکومتونه هڅه کوي چې د خپلو محصولاتو د معرفي کېدو او هغو ته د بازارموندنې په موخه په کور دننه او بهر کې نندارتونونه جوړ کړي، چې اسلامي امارت هم دا لړۍ پیل کړې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، د نندارتونونو له لارې د یو هېواد سوداګري وده کولی شي او په دغه برخه کې پانګونې ته هم زمینه برابرېږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، افغانستان پراخه کرنیزې ځمکې او د خړوبولو لپاره یې پرېمانه اوبه لري، خو بیا یې هم د کرنیزو توکو د تولید کچه کمه ده، چې په خبره یې، ددې ستونزې د هوارۍ په


موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د افغان متخصصینو په مرسته عملاً د هېواد د ملي پراختیا پر ستراتیژۍ کار روان کړی، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له منظورۍ وروسته به عملي او په وسیله به یې وتوانېږو چې د افغانستان کرنه میکانیزه او هېواد به د صنعتي کېدو په لور سوق کړو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل چې اسلامي امارت د صنعت سکټور ترڅنګ د کرنې سکټور ته هم د لومړیتوب په ورکولو سره د اوبو مدیریت ته پاملرنه کړې او په هېواد کې یې د اوبو له مدیریت او خپل مشروع حق څخه د استفادې په موخه سترې اوبیزې پروژې پیل کړې دي. محترم ملا صاحب ټولو هېوادوالو او په ځانګړې ډول بزګرانو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت د هېواد د کرنیز سکټور د پیاوړي کولو په موخه عملاً په مهمو پلانونو کار کوي، چې په تطبیق سره به یې د هېواد اقتصادي وده پیاوړې او د خلکو د ژوند کچه به ورسره ښه شي. د کرنیزو محصولاتو ۳۰م پسرلنی نندارتون د کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو ته د بازارموندنې، د کرنیز سکټور د پیاوړتیا او له کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه جوړ شوی چې په ٢٦٣ غرفو کې مختلف توکي پکې نندارې ته وړاندې شوي وو.

## د کرنیزو محصولاتو په دېرشم پسرلني نندارتون کې نندارې ته د کرنیزو محصولاتو د وړاندې کولو موخه:

موخه یې په کور دننه او له هېواده بهر د کرنیزو محصولاتو معرفي کول، هغو ته بازار موندنه او د کرنې پرمختګ دی.

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د کرنیزو محصولاتو په دېرشم پسرلني نندارتون کې یې نندارې ته د بېلابېلو کرنیزو محصولاتو د وړاندې کولو» خبر خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنی




### ب: خصوصي رسنی



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د کرنیزو محصولاتو په دېرشم پسرلني نندارتون کې یې نندارې ته د کرنیزو محصولاتو د وړاندې کولو راپور په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼې





#### آژانسونه




## ویاندویان




## ټویټرپاڼې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## ویب پاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه



## د ياد خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

**موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو:** *دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

**۱. دولتي رسنۍ:** د کرنيزو محصولاتو په دېرشم پسرلني ننداړتون کې ننداري ته د بېلابېلو کرنيزو محصولاتو د وړاندې کولو خبر په اړه په دولتي رسنيو لکه تلويزيونونو، راډيوگانو، ويانډويانو، ويبپاڼو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ټويټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنيو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۹۱۱ دی. د دغو نظرونو له جملې ۸۷۹ مثبت او ۲۴ منفي نظرونه او ۸ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ۹۶ ٪، منفي ۳ ٪ او سالم وړانديزونه۱ ٪ دي.

**۲. خصوصي رسنۍ:** د کرنيزو محصولاتو په دېرشم پسرلني ننداړتون کې ننداري ته د بېلابېلو کرنيزو محصولاتو د وړاندې کولو خبر په اړه په خصوصي رسنيو لکه تلويزيونونو، راډيوگانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو او خبري اژانسونو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۳۱۴ دی. د دغو نظرونو له جملې ۲۸۲ مثبت او ۲۳ منفي نظرونه او ۹ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۹۰٪، منفي نظرونه ۷ ٪ او سالم وړانديزونه ۳ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنيو کې د خصوصي رسنيو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زياته ده. په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۶ او په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۹۰ ده. خو په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې د منفي نظرونو سلنه ۷ او په دولتي رسنيو کې دا سلنه ۳ ده. که په دولتي او خصوصي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۱۶۱ مثبت نظرونه، ۴۷ منفي نظرونه او ۱۷ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۵ ٪ مثبت نظرونه، ۴ ٪ منفي نظرونه او ۱ ٪ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د گوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو؛ ځکه د ټولو نظرونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسگونه نه بلکې سلگونو ته رسېږي.

- ترڅو چې صادرات بهر ته زيات او واردات کم نه شي اوهمدارنگه زراعت اوصنعت ته وده ورنه کړل شي اقتصاد نه پياوړی کېږي.

- دا ډېر ښه اقدام دی څکه موږ کولای شو د نندارتونونو له لارې خپل کرنیز محصولات او نور په هېواد کې دننه تولیدات هم هېوادوالو او هم بهرنیانو ته معرفي کړو، په دې سره به د کرنې او صنعت په برخه کې پانګونې ته زمینه برابره او خپلو محصولاتو او تولیداتو ته به مارکیټ پیدا کړو.

- مشران باید د افغانستان د ابادۍ لپاره شپه او ورځ په ځان یوه کړي، تر څو په ځان بسیا او یو پرمختللی افغانستان ولرو.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☞ **لومړی**؛ یو شمېر کسانو په خپلو نظرونو کې د هېواد صادراتو او وارداتو ته په اشارې ویلي، تر هغې چې زموږ صادرات د وارداتو په پرتله زیات نه شي او ددې له پاره د کرنې او صنعت سکټورونه وده ونه کړي، اقتصاد مو نه پیاوړی کېږي. د اسلامي امارت تر بیا واکمنېدو وروسته سره له دې چې امریکا د افغانستان بانک شتمنې کنګل کړه او د نړۍ له لوري ځیني بندیزونه هم پرې ولګېدل او دغې چارې د افغانستان بانکي سیستم ټکنی او سوداګري یې زیانمنه کړه؛ خو بیا هم د افغانستان اسلامي امارت مسوولینو سوداګرۍ ته، چې د هېواد د اقتصادي څرخ اصلي محرک بلل کېږي، پوره پاملرنه وکړه. موخه یې دا وه چې د سوداګرۍ په پراختیا سره کولای شي د صادراتو کچه لوړه کړي او پر مټ یې لوېدلی اقتصاد ورغوي. د دې ترڅنګ اسلامي امارت د کرنې او صنعت سکټورونو ته هم پوره پاملرنه کړې ده، د کرنې د پراختیا له پاره په هېواد کې د بندونو، کانالونو او په کور دننه او بهر کې د کرنیزو محصولاتو د نندارتونونو جوړول ددې له پاره دي چې کرنه وده وکړي او کرنیزو محصولاتو ته مارکیټ پیدا کړي. دغه راز د ثور په میاشت کې د هېواد په کچه د درملو، اوسپنې ویلو کولو او غیر الکولي مشروباتو د فابریکو پرانیستل د دغه ښکارندویي کوي چې اسلامي امارت د صنعت برخې ته خپل پام اړولی دی. دغه راز په کور دننه یې د صنعتکارانو له پاره په بشپړ ډول اسانتیاوې برابرې کړې او د صنعت په سکټور کې یې پانګونې ته زمینه برابره کړې ده. همدا فعالیتونه او پرمختګونه دي چې د افغانستان د صادراتو کچه د تیرو کلونو په پرتله دوه برابره لوړه شوې ده. بله دا چې اسلامي امارت ټول تمرکز پر دې کوي چې وکولای شي په راتلونکو کلونو کې د وارداتو په پرتله خپل صادرات زیات کړي او هېواد له وارداتي حالت څخه صادراتي ته سوق کړي.

☞ **دویم**؛ ځینو هېوادوالو بیا د دغه ډول نندارتونونو جوړول یو پر ځای اقدام بللی او ویلي یې دي چې په دې سره به موږ وکولای شو خپل کرنیز محصولات او صنعتي تولیدات خپلو هېوادوالو او هم بهرنیانو ته معرفي او مارکېټ ورته پیدا کړو. د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې سرتاسري امنیت ټینګ شوی دی او له دې سره په بېلا بېلو په ځانګړي ډول اقتصادي برخو کې ښه فرصتونه رامنځته شوي او دا مسله د مهمو اقتصادي بدلونونو لامل ګرځېدلې

ده. په دې برخه کې نوښت به وکولای شي د افغانستان په اقتصادي ټیکاو کې رغنده رول ولوبوي. اسلامي امارت د بشپړ امنیت د ټینګښت ترڅنګ په هېواد کې دننه د تولیداتو د ملاتړ په موخه په ملي او نړیواله کچه د نندارتونونو جوړولو ته مخه کړې ده، څو وکولای شي په کور دننه او بهر کې خپل کرنیز محصولات او صنعتي تولیدات خلکو ته معرفي او د خپلو دغو محصولاتو او تولیداتو له پاره مارکیټ پیدا کړي چې له دې سره بیا اقتصادي ودې ته پخپله لار هوارېږي. نو په همدې موخه اسلامي امارت په هېواد کې دننه او له هېواد څخه بهر په بېلا بېلو هېوادونو کې د افغانستان د کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو د معرفي کېدو، هغو ته د بازارموندنې او په دغو برخو کې د پانګونې د جلب په برخه کې لسګونه نندارتونونه جوړ کړي دي. په دغو نندارتونو کې د افغان او بهرنیو سوداګرو ترمنځ د مېلیونونو ډالرو په ارزښت تړونونه لاسلیک شوي دي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي د سوداګرۍ په پراختیا، د صنعت او کرنې په پرمختګ کې رغنده رول ولوبوي او ورسره زموږ اقتصاد پیاوړی شي.

☜ **دربیم**؛ یو شمیر د نظر خاوندانو بیا په خپلو نظرونو کې ددې ټکي یادونه کړې ده چې مشران باید د افغانستان د ابادۍ لپاره شپه او ورځ په ځان یوه کړي، تر څو په ځان بسیا او یو پرمختللی افغانستان ولرو. د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې د سیاست په ګډون د اقتصادي، ټولنیزو خدماتو، صنعت، کرنې، برېښنا، د اوبو مدیریت او زیربناوو جوړولو په برخو کې زیات شمېر پروژې عملي شوې او ځینې یې تر کار لاندې دي. سوداګرې پراختیا موندلې چې له امله یې د صادراتو په کچه کې زیاتوالی راغلی دی. ددې پرمختګونو تر شا د هېواد پرمختګ او پر خپل پښو درولو ته د ژمنو مسوولینو لاس دی. په دې مانا چې د اسلامي امارت مسوولین متعهد دي او همدا تعهد دی چې په دې کمه موده کې د افغانستان ډېری سکټورونو کې پرمختګونه رامنځته شوي او موږ یې شاهدان یوو.

## پایله

دا چې هر حکومت خپل ملت ته مسوول دی او خلک ترې د پرمختګ، هوساینې او سوکالۍ تمه لري، نو حکومت هم اړ دی چې په دې برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي او ملت ته دا وښیي چې د یو مسوول په توګه ژمن دی چې په ټولنه او هېواد کې په اقتصادي، ټولنیزو او دې ته ورته نورو برخو کې شته ستونزو ته حل لاره پیدا او د پرمختګ له پاره یې چټک ګامونه پورته کړي. د خلکو له نظرونو څخه هم دا جوتیږي چې دوی له حکومت څخه غواړي چې په هر برخه کې دې له ځنډ پرته ګامونه پورته کړي. دا چې د افغانستان له نیمایي زیات وګړي پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي، نو تر ډېره بریده د خلکو نظرونه هم د دغه سکټور پر ودې او د کرنیزو محصولاتو له پاره پر بازارموندنې راڅرخي. اسلامي امارت ته د خلکو ستونزو حلول لومړیتوب لري او د همدې هدف لپاره یې هڅه کړې ده چې د نندارتونونو په جوړولو سره افغاني کرنیز محصولات په کور دننه او بهر کې خلکو ته معرفي کړي چې له هغې جملې کولای شو همدا د کرنیز محصولاتو دبرشم پسرلنی نندارتون یاد کړو چې پکې کرنیز محصولات نندارې ته وړاندې شول. اسلامي امارت په دې برخه کې د خپلو هڅو

لمن پراخه کړې ده او د خپلو کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو له پاره یې پر یاد نندارتون سربیره په هېواد کې دننه او له هېواد څخه بهر د سیمې او نړۍ په یو شمېر نورو هېوادونو کې هم نندارتونونه جوړ او یا یې په دغو هېوادونو کې په جوړو شویو نندارتونونو کې خپل دغه محصولات او تولیدات نندارې ته وړاندې کړي دي. د همدغو نندارتونونو په پای کې د افغان او بهرنیو سوداګرو او پانګوالو ترمنځ د مېلیونونو ډالرو په ارزښت تړونونه هم لاسلیک شوي دي. دا چاره کولای شي د هېواد د سوداګرۍ، کرنې او صنعت د لا پرمختګ په برخه کې رغنده رول ترسره او د هېواد اقتصادي وده ګړندۍ کړي.

# پاشدان بند؛ په بشپړېدو به يې د کرنې سکټور پرمختګ وکړي



## سریزه

دا چې اوبه له يوه لوري د انسانانو د ژوندي پاتې کېدو له پاره اړينې دي، له بل لوري د بشر پر اقتصادي ژوند هم زياته اغيزه لري. د اوبو مسله په نړۍ کې نن سبا ډېره مهمه ده، ځکه خوږې اوبه کمې دي او اړتيا يې زياته ده. هر هېواد هڅه کوي چې خپلې اوبه داسې مديريت کړي چې له مخې يې وکولای شي، د برېښنا، کرنې او د څښاک په برخه کې ګټه ترې پورته کړي. د برېښنا او کرنې له پاره بيا پر سيندونو او يا هم د باران او واورو اوبو ته بندونه جوړېږي او له هغو بيا د دغو دواړو سکټورونو له پاره ګټه پورته کيږي. په همدې موخه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د ثور مياشتې په نهمه نېټه په هرات ولايت کې د پاشدان بند د پاتې چارو د پيل پرانيسته وکړه. له دې امله جوړو شوو مراسمو ته پخپله وينا کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د تېرو دوو لسيزو پر مهال د هېواد اشغال، جګړې، سياسي او اقتصادي بې ثباتي او د اقليمي بدلون له امله اوښتي زيانونه هغه لاملونه ياد کړل، چې له امله يې افغانستان له ډېرو ټولنيزو او اقتصادي ستونزو سره مخ شو. محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت د هېواد د خودکفايي، ټولنيز او اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو برخو تر څنګ د طبيعي سرچينو د مديريت لپاره قوي هوډ او د عمل نيت لري، چې په خبره يې، په دغه برخه کې يې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې ښه زمينه برابره کړې ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، اسلامي امارت د هېواد په کچه د ټولو هغو بندونو ارزونه ترسره کړې چې کارونه يې نيمګړې پاتې وو. محترم ملا صاحب زياته کړه، د يادو بندونو د پاتې چارو د بشپړولو لپاره جامع کاري پلانونه جوړ شوي چې له مخې


يې پر ډېرى بندونو عملي كار روان دى. د دغو بندونو له جملې يو هم د پاشدان بند دى، چې دادى عملاً يې كار پيل شو. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د پاشدان بند پروژه د هرات ولايت لپاره مهمه او حياتي وبلله او د هرات ولسونو ته يې ډاډ وركړ، چې اسلامي امارت په ټول توان د يادې پروژې بشپړولو ته ژمن دى او هڅه كوي چې په وخت او ښه كيفيت سره يې كارونه تكميل كړي. محترم ملا صاحب د هېواد د آزادۍ لپاره د هرات ولسونو د قربانيو يادونه وكړه او ويې ويل، چې اسلامي امارت به ټولې هغه پروژې پيل كړي، چې د دغه ولايت اقتصادي ستونزې پرې حل كېداى شي. د پاشدان بند پروژې په بشپړېدو سره به زرګونو هېوادوالو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د كار زمينه برابره، شاوخوا ۵۴ مېليونه مترمكعب اوبه به ذخيره، ۱۳ زره هكټاره ځمكه به خړوبه او دوه مېګاواټه برېښنا به توليد شي.

## پاشدان بند؛ په بشپړېدو به يې د كرنې سكټور پرمختګ وكړي موخه:


موخه يې د اوبو مديريت، د كرنې پرمختګ او په كور دننه د برېښنا توليد دى.

**په هغو رسنيو كې د خلكو د نظرونو ارزونه چې «پاشدان بند؛ په بشپړېدو به يې د كرنې سكټور پرمختګ وكړي» خبر يې خپور كړى دى:**


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

پـه دغـه ګراف کـې په هغو دولتـي او خصوصي رسـنیو کې د خلکو د نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چې د پاشـدان بند؛ پـه بشـپړېدو بـه یـې د کرنـې سـکټور پرمختګ وکـړي راپور یـې پـه ویډیویـي، غږیـزه او چاپي بڼه خپـور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼې





#### ویب پاڼې




## ویاندویان




## تویټرپاڼې





## په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزوني ټولگه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوگاني




## ورځپاڼې





## ویب پاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو شېرنه او ارزونه:

**موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو:** *دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

**۱. دولتي رسنۍ:** پاشدان بند؛ په بشپړېدو به یې د کرنې سکټور پرمختګ وکړي خبر په اړه په دولتي رسنیو کې لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ویبپاڼو، ورځپاڼو او ټوېټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو شېرنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۲۱۱ دی. د دغو نظرونو له جملې ۱۱۶۳ مثبت دي. ۳۷ منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۶ ٪، منفي ۳ ٪ او سالم وړاندیزونه۱ ٪ دي.

**۲. خصوصي رسنۍ:** د پاشدان بند؛ په بشپړېدو به یې د کرنې سکټور پرمختګ وکړي خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو شېرنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦٧٥ دی. د دغو نظرونو له جملې ۵۲۹ مثبت نظرونه او ۱۱۲ منفي نظرونه او ۳۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۸٪، منفي نظرونه ۱۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹٦ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۸ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو سلنه په ترتیب سره ۱۷ او ۵ ده، خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۳ او ۱ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱٦۹۲ مثبت نظرونه، ۱۴۹ منفي نظرونه او ۴۵ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰ ٪ مثبت نظرونه، ۸ ٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د اسلامی امارت بنسټیز اقتصادي پلانونه به نړۍ حیرانه او هېواد به دنړۍ سیال کړي. په نړۍ کې یوازینی هېواد افغانستان دی چې پرېمانه خوږې اوبه لري، نور هېوادونه داسې اوبه ډېرې کمې لري. نو په کار ده چې بندونه پرې جوړ شي. د ارزګان ولایت هم اوبه لري، نو که د آغاجان بند جوړ شي دا به د ارزګان خلکو ته یو ستر خدمت وي.

- که د کندهار ولایت د ارغستان د لوړې بند جوړ شي نو ددې سیمې کرنه به پرمختګ وکړي.
- د کابل-جلال آباد لار چې وخت نا وخت پکې غرونه راښويږي، خلکو ته يې سختې ستونزې راولاړې کړې دي، ددې لويې لارې غم دې وخوړل شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ يو شمېر هېوادوالو وړانديز کړی چې که د ارزګان د آغا جان بند جوړ شي، نو دا به د دغه ولايت خلکو ته يو ستر خدمت وي. ددې له پاره چې هم ژوند پرمخ ولاړ شي، صنعت وده، کرنه پراختيا، برېښنا توليد او سيلابونه مهار شي؛ نو هر هېواد هڅه کوي چې خپلې اوبه هغه ډول مديريت کړي چې څنګه په کار ده. افغانستان د طبيعي اوبو پرېمانه سرچينې لري. دا سرچينې که په سم ډول مديريت شي، ددې جوګه دي چې د افغانستان مېليونونه هکتاره شاړې دښتې په کرنيزو ځمکو بدلې، په کافي اندازه برېښنا توليد او صنعت ته وده ورکړي. د اسلامي امارت په راتګ سره د اوبو د مديريت په برخه کې کار شوی، چې د بيلګې په ډول د قوش تېپې ملي کانال، د کجکي دويم فاز، د بخش آباد بند او د کونړ د مناګې بند، د کمال خان بند د کانالونو چارو پيلول، د تخار د نمک آب کانال، د زابل د توري بند دی چې د ځينو يې کارونه بشپړ او ګټې اخيستنې ته سپارل شوي او پر ځينو لا هم کار روان دی. د ارزګان د چينارتو ولسوالۍ د اغاجان بند هم يو له دغو بندونو څخه دی. ددغو بندونو او کانالونو جوړېدل د اسلامي امارت له لوري د اوبو مهارول او سم مديريت په ډاګه کوي چې پر مټ به يې له يوه لوري مېليونونه هکتاره شاړې دښتې په کرنيزو ځمکو بدلې او تر څنګ به يې د هېواد د برېښنا د کموالي ستونزه هواره شي. دغه دواړه بيا کولای شي صنعت او زراعت مو پراخ، اقتصاد پياوړی او هېواد مو د پرمختګ په لور روان کړي. د پاشدان بند پروژې د پاتې چارو د پيل په مراسمو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، اسلامي امارت د هېواد د خودکفايۍ، ټولنيز او اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو برخو تر څنګ د طبيعي سرچينو د مديريت لپاره قوي هوډ او د عمل نيت لري، چې په خبره يې، په دغه برخه کې يې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې ښه زمينه برابره کړې ده. د ارزګان د آغا جان او د سرپل ولايت د سلطان ابراهيم بندونو د جوړولو پريکړه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په مشرۍ په اقتصادي کمېسيون کې وشوه. اوسمهال د سلطان ابراهيم بند لومړۍ سروې هم ترسره شوې ده. نو د ارزګان ولايت د آغاجان بند له پاره هم پلان چمتو شوی دی چې د امکاناتو په برابرېدو به يې کارونه پيل شي او له ګټې به يې د ارزګان ولسونه برخمن شي.

**دويم**؛ د کندهار يو شمېر اوسيدونکو بيا په خپلو نظرونو کې ويلي دي چې که د کندهار ولايت د ارغستان د لوړې بند جوړ شي، نو د دې سيمې کرنه به پرمختګ وکړي. بندونه په همدې موخه جوړېږي چې اوبه مديريت شي او پرمټ يې کرنه وده وکړي. اسلامي امارت د دې له پاره چې د کرنې سکټور پرمختګ وکړي، موږ او تاسو وليدل چې په دې شاوخوا دريو کلونو کې يې د هېواد په کچه د بندونو جوړولو چارې پيل کړې دي. موخه همدا ده چې اوبه زيرمه شي، څو له يوه لوري تر ځمکه لاندې اوبه تغذيه او له بل لوري هغه اوبه چې اوسمهال ترې ګټه نه پورته کيږي او هسې روانې دي، مهار او د

کرنې په برخه کې وکارول شي. د کندهار د لوړې بند هم دا ګتې لري. اسلامي امارت مسوولینو په تیره بیا د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې څو ځلې ویلي دي چې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې د بندونو جوړول یې د کارونو په سر کې ځای لري. خو لومړیتوب یې ځکه هغو بندونو ته ورکړی دی چې هغه کولای شي په زیاته اندازه ځمکه خړوبه او برېښنا تولید کړي. له دې ډول بندونو وروسته به یو په بل پسې د کرنې له پاره د اوبو زیرمه کولو بندونه جوړیږي. په دې بندونو کې د کندهار د لوړې بند هم په پلان کې شته.

**دریېیم**، د ختیځو ولایتونو یو شمیر اوسیدونکو بیا د کابل - جلال اباد لارې ستونزو ته په اشارې سره ویلي چې وخت نا وخت پکې غرونه را ښوییږي، خلکو ته یې سختې ستونزې راولاړې کړې دي. په رښتیا هم د کابل- جلال آباد لویه لار د غرونو په منځ کې تیره شوې او د ژمي او یا هم پسرلي په موسم کې له دغو غرونو کاڼې رالویږي او سړک بندوي. له دې امله خلک له ستونزو سره مخ وي. خو اسلامي امارت ته ددې لارې سوداګریز ارزښت او د خلکو ستونزې ور معلومې دي. موږ او تاسو ولیدل چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۱مه نېټه د کابل - جلال آباد دوهم لین سړک څخه لیدنه وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د لیدنې پرمهال وویل، د کابل - جلال آباد پر لومړي سړک د زیاتې ګڼې ګوڼې او ځینې وخت د غره د ښویېدو له امله ترافیکي پېښې رامنځته کېږي، چې په پایله کې یې هېوادوالو ته ځاني او مالي زیانونه رسېږي. نو اړتیا ده چې د دغه سړک دوهم لین هم جوړ شي، څو ترافیکي پېښې راکمې، سوداګریز توکي په وخت انتقال او د هېوادوالو ژوند وژغورل شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال دا څرګندونې ددې ښکارندویي کوي چې اسلامي امارت په پام کې لري د کابل- جلال اباد د لومړي سړک تر څنګ دویم لین سړک هم ورغوي، په دې سره به بیا یادې ستونزې خپله هواري شي.

## پایله

په نړۍ کې انسانانو ډېره پخوا دا درک کړې وه چې اوبه باید په سم ډول مدیریت او د زېرمه کولو له پاره یې بندونه جوړ شي. له همدې امله د کرنې د پراختیا، د برېښنا د تولید او د سیلابونو د مخنیوي له پاره په سیندونو ستر او کوچني بندونه جوړ شوي دي چې ځینې لا اوس هم شته دي. له دې څخه معلومیږي چې اوبه د یوه هېواد په پرمختګ او اقتصادي وده کې مهم رول لري او پرته له اوبو ژوند ستونزمن څه چې ان ناشونی دی. اسلامي امارت د اوبو اهمیت ته په کتو ددې مهمې مادې د ښه مدیریت او مهار په موخه د هېواد هغه بندونه چې پخوا یې څه نا څه کار شوی خو بشپړ شوي نه دي، د هغو د پاتې چارو بشپړولو له پاره یې اقدام کړی دی. د دغو بندونو له جملې څخه یو هم د هرات د پاشدان بند دی. دا بند چې د شاوخوا ۵۴ مېلیونه مترمکعب اوبو د زېرمه کولو، د ۱۳ زره هکتاره ځمکې خړوبولو او دوه مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري، د چارو په بشپړېدو سره به یې د یاد ولایت د کرنې په برخه کې پوره پرمختګ رامنځته شي. دغه راز به یو شمیر خلکو ته برېښنا چمتو او دغه راز به زرګونو هېوادوالو ته کاري زمینه هم برابره شي. د دغو چارو په ترسره کېدو سره به په ملي اقتصاد کې پرمختګ وشي او هېواد به د ترقۍ په لور خپل ګامونه نور هم ګړندي کړي.

# د یو مېلیارد افغانیو په ارزښت درې مهمې پروژې پرانیستل شوې



## سریزه

دا یو حقیقت دی، کوم حکومتونه چې ژمن او متعهد وي، د شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته وفادار وي، هغه بیا کولای شي هېواد د پرمختګ په لور بوځي. زحمت وباسي، خولې وبهوي او ارام ژوند ته شا کړي او په پایله کې راتلونکو نسلونو ته سوکاله، ارامه او پرمختللی ژوند برابر کړي. اسلامي امارت د همدې کړنلارې په غوره کولو سره تر دې مهاله په خپلو کړنو کې مثبتې لاسته راوړنې درلودلې دي. د هېواد زیربناوو جوړولو ته یې مخه کړې ده او د ښاري سړکونو په ګډون یې بیلا بېلې لویې لارې او سړکونه رغولي دي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه د خیرخانې کوتل سړک دوهمه برخه، له شهید څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک لومړۍ برخه او د هوایي ډګر له څلورلارې بیا تر ګمرک پورې د غځیدلي سړک جوړولو پروژې پرانیستل شوې. محترم ملا صاحب د یادو پروژو د پرانیستو مراسمو ته ووېل؛ کابل ښاروالي د ښار د ښکلا او منظموالي په موخه ډېرې هڅې کوي چې د پخوا په پرتله د ښار ښه منظمه شوې، مور یې ټولې ترسره شوې هڅې ستایو او پر هېوادوالو غږ کوو چې د عام‌المنفعه پروژو په ساتلو کې له حکومت سره همکاري وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل ښاروالۍ مسوولینو ته سپارښتنه وکړه، څو یادې پروژې په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سره بشپړې کړي. د خیرخانې کوتل سړک دوهمه برخه ۲۵۲۰ متره اوږدوالی او ۶۰ متره پلنوالی لري چې چارې به یې د ۳۶۴ میلیونو افغانیو په لګښت په ۲۰ میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. له شهید څلورلارې تر قصبې پورې د غځېدلي سړک د لومړۍ


برخې پروژه ۱۸۹۰ متره اوږدوالی او ۴۵ متره پلنوالی لري، چې ټولټال پرې ۱۷۵ میلیونه افغانۍ لګښت راځي او په یو کال کې ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي. د هوايي ډګر له څلورلارې بیا تر ګمرک پورې د غځېدلې سړک پروژه ۲۷۹۴ متره اوږدوالی او ۶۰ متره پلنوالی لري، چې ۴۰۷ مېلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي او ټاکل شوې چې په ۲۰ میاشتو کې یې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي. دغه پروژې ویالې، پلې لارې، ګلدانونه، برېښنا، تمځایونه، د سړک د سر خط کول، د ترافیکي نښو نصبول او د یوه معیاري سړک نورې برخې هم لري، چې مالي لګښت یې د کابل ښاروالۍ له لوري ورکول کېږي

## د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د درېیو مهمو پروژو د پرانیستې موخه:

موخه یې په ښارونو کې د ترافیکي ګڼې ګوڼې راکمول، خلکو ته په دې برخه کې د اسانتیاوو برابرول او د ښاري زیربناوو رغول دي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د درېیو مهمو پروژو د پرانیستې» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### يادونه:

پـه دغـه گراف كـې په هغو دولتـي او خصوصي رسـنيو كې د خلكـو د نظرونـو سـلنه ښـودل كېـږي چـې د يـو ميليـارد افغانيـو پـه ارزښـت د درېيـو مهمو پـروژو د پرانيسـتې راپور يـې پـه ويډيويـي، غږيـزه او چاپـي بڼه خپور كـړى دى.

## په دولتي او خصوصي رسنيو كې د ياد خبر په اړه د خلكو د نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوگانې





#### ورځپاڼې





#### آژانسونه




## ویاندویان




## تویټرپاڼې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## ویب پاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزوني ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزوني ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

**موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو:** دولتي رسنۍ *او* خصوصي رسنۍ:

**۱. دولتي رسنۍ:** د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د درېیو مهمو پروژو د پرانیستې خبر په اړه په دولتي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ورځپاڼو او ټویټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۹۹۲ دی. د دغو نظرونو له جملې ۹۳۷ مثبت دي. ۴۱ منفي نظرونه او ۱۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه۲ ٪ دي.

**۲. خصوصي رسنۍ:** د یو میلیارد افغانیو په ارزښت د درېیو مهمو پروژو د پرانیستې خبر په اړه په خصوصي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویب پاڼو او خبري اژانسونو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۴۴ دی. د دغو نظرونو له جملې ۴۵۰ مثبت، ٦٧ منفي او ۲۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۳٪، منفي نظرونه ۱۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۳ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو او سالمو وړاندیزونو سلنه په ترتیب سره ۱۲ او ۵ ده، خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۴ او ۲ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۳۸۷ مثبت نظرونه، ۱۰۸ منفي نظرونه او ۴۱ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۰ ٪ مثبت نظرونه، ۷ ٪ منفي نظرونه او ۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- کابل ډېر ښکلی جوړ شوی دی، ما خو خپله نه دی لیدلی، خو کوم کسان چې له بهر څخه افغانستان ته ځي، بیرته چې راستانه شي، نو وایي چې اسلامي امارت د کابل بڼه بدله کړې ده او ډېر ښکلی یې جوړ کړی دی. دوی دا هم وایي چې اسلامي امارت د ښار په جوړولو کې شپه ورځ اخته وي او فساد یې هم صفر ته رسولی دی.
- که چیرې د واخان دهلیز کارونه هم چټک شي دا به د هېواد د اقتصادي ودې له پاره ډېر ګټور تمام شي.

- د کابل چهاراسياب د سړک پاتې برخه چې د بيني حصار څخه شروع تر چهاراسياب مدرسې پورې غځېدلې دی، کارونه يې په ټپه ولاړ دي، نو که چيرې دغه سړک ته مسوولين پاملرنه وکړي، دا به يو ښه اقدام وي.
- بايد د کابل-مزار لويې لارې په ځانګړي ډول سالنګ ته زياته پاملرنه وشي او په بنيادي ډول دا لويه لار ورغول شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی؛** يو شمېر بهر ميشتو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ويلي چې د اسلامي امارت له لوري کابل ښار ډېر ښکلی جوړ شوی دی او دوی په دې اړه خوښي ښودلې ده. د دوی په نظرونو کې يو بل ټکی هم شته او هغه دا چې اوسمهال په افغانستان کې فساد پای ته رسيدلی دی او همدا لامل دی چې پروژې په چټکۍ سره پلې کيږي. په رښتيا هم د اسلامي امارت له راتګ وروسته د کابل په ګډون د هېواد په ټولو لويو ښارونو کې د سړکونو په ګډون د بيارغونې ډېرې پروژې پلې شوې دي. کابل ښار کې د ښاري ښکلا ترڅنګ هغه سړکونه چې پخوا د زورواکو له لوري يې د جوړېدو پر وړاندې خنډونه راولاړېدل، هغه تقريبا جوړ شوي دي. د دغو سړکونو په جوړېدو سره په ښار کې ترافيکي ګڼه ګوڼه تر ډېره بريده راکمه شوې ده. دغه راز شنې ساحې ټولې رغول شوې او څلور لارو کې ښکلي نمادونه جوړ شوي چې د ښار ښکلا يې دوه برابره زياته کړې. په ښار کې به چې پخوا په کومه اندازه کثافات موجود و، اوسمهال د ښاروالۍ له لوري پر وخت له ښار څخه ايستل کيږي او خلک له دې پلوه هوسا دي. بله خبره چې اوسمهال په افغانستان کې اداري فساد له منځه تللی دی دا يو واقعيت دی. د اسلامي امارت له راتګ سره سم د فساد د مخنيوي پر وړاندې پرېکنده ګامونه پورته شوي دي. په ټولو برخو کې شفافيت رامنځته شوی دی. دغه راز په پروژو کې هم شفافيت موجود دی او له همدې امله اړوند مسوولين په چټکۍ سره خپلې چارې پرمخ بيايي او دا مهال ګڼ شمير پروژې عملي شوې دي. د يو ميليارد افغانيو په ارزښت د درېيو مهمو پروژو پرانيسته چې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري وشوه، د همدې پروژو يوه برخه ده. د دغو پروژو په عملي کېدو سره به په ښار کې ترافيکي ګڼه ګوڼه نوره هم را کمه او هېوادوالو ته به اسانتياوې رامنځته شي. ددې ترڅنګ به د ښار په لا ښکلا کې مهمه برخه ولري.

☜ **دويم؛** ځينو کسانو بيا وړانديز کړی چې د واخان دهليز د جوړولو کارونه دې چټک شي که چيرې دا دهليز ورغول شي، نو د افغانستان پر اقتصادي وده به مثبته اغيزه وکړي. د واخان دهليز به افغانستان او د منځنۍ اسيا هېوادونه د کراکورم د لويې لارې او کاشغر سره ونښلوي. په نننۍ نړۍ کې د هېوادونو اصلي ځواک د اقتصاد له لارې ټاکل کېږي او سيمه ييز اتصال د اقتصادي ودې تر ټولو مهم رکن ګڼل کېږي. اسلامي امارت دې ټکي ته په پاملرنې سره هڅه پيل کړې ده چې دغه مهم دهليز جوړ او خپله سوداګري پراخه کړي. اسلامي امارت د روان کال د ليندۍ په اتمه نيټه د واخان سړک جوړولو چارې پيل کړې دي. د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد په دې اړه وويل چې له نړۍ په

ځانګړي ډول چين هېواد سره يې د اقتصادي اړيکو د پراختيا په موخه ددغه سړک چارې پيل کړې دي او په چټکۍ سره روانې دي. نوموړي زياته کړه چې د اسلامي امارت مشرتابه د هېواد د اقتصادي اړيکو د پراختيا په برخه کې مهم ګامونه پورته کړي دي او هڅه کوي بېلا بېلې ترانزيټي لارې رامنځته کړي. دغه راز د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملاعبدالغني برادر اخوند په کندهار کې يوې غونډې ته وويل چې اسلامي امارت د بدخشان په واخان کې له چين سره د وصلېدو لپاره د سړک جوړولو چارې پيل کړې دي. دا په دې مانا ده چې اسلامي امارت د واخان مهم دهليز جوړولو ته ژمن دی او هڅه کوي چې دغه مهمه لار پرانيزي او سوداګري پراخه کړي. نو اوس جوته شوه چې اسلامي امارت ددغه مهم دهليز جوړولو ته ژمن دی او په جوړېدو سره به يې په رښتيا هم اقتصادي وده ګړندۍ شي.

☜ **دريېم**، يو شمير کسانو په خپلو نظرونو کې د کابل چهاراسياب سړک د پاتې برخې د جوړېدو غوښتنه کړې ده. دا سړک يو مهم سړک دی او کابل يې له لوګر، پکتيا او خوست ولايتونو سره تړلی دی. دا يوه سوداګريز او ترانزيټي لار ده او جوړول يې اړين دي. د دې ترڅنګ د دغه سړک په جوړېدو سره به په دغه لار د پرتو ولسونو ترانسپورتي ستونزې هم تر ډېره بريده هوارې شي. اسلامي امارت ټولې هغه لارې او سړکونه چې سوداګريز او ترانزيټي ارزښت يې لوړ دی، يو په بل پسې رغوي. موږ او تاسو وينو چې د کابل- کندهار او د کابل- مزار پر لويو لارو عملا کار روان دی او د کابل- جلال اباد دويم لين سړک جوړولو له پاره پلان چمتو شوی دی او په راتلونکي کې به يې کارونه پيل شي. نو د چهاراسياب سړک چې يو له مهمو سړکونو څخه دی، دا سړک هم د اسلامي امارت له لوري په پلان کې نيول شوی دی او د امکاناتو په برابرېدو سره به يې چارې پيل شي.

## پايله

هر هېواد چې غواړي پرمختګ وکړي، نو بايد پيل د زيربناوو له جوړولو وکړي. تر هغې چې زيربناوې جوړې نه شي، پرمختګ هم ستونزمن دی. افغانستان چې په تيرو څلورو لسيزو جګړو کې يې خپلې ټولې زيربناوې له لاسه ورکړې دي، جوړول يې هم وخت او هم لګښت ته اړتيا لري. خو په تيرو حکومتونو کې دې برخې ته چندان پاملرنه ونه شوه، همدا لامل و چې لا هم افغانستان په هره برخه کې وروسته پاتې او خلک يې له ستونزو سره لاس او ګريوان دي. د دغو زيربناوو له ډلې څخه يو هم سړکونه او لويې لارې دي. دا سړکونه که د ولايتونو ترمنځ دي او يا هم د ښارونو په منځ کې دي، جوړول يې اړين دي. د دغو سړکونو په رغولو سره به زموږ سوداګري، صنعت، کرنه او ټولنيز خدمتونه پراختيا ومومي او په لنډ وخت کې به هېواد د پرمختګ په لور روان شي. اسلامي امارت همدې اهميت ته په کتو سره د هېواد په کچه او خپله په لويو ښارونو کې د سړکونو رغولو ته پام اړولی دی. د شاوخوا يو ميليارد افغانيو په ارزښت د کابل ښار د درېيو مهمو سړکونو رغول د همدې لړۍ يو کړۍ ده. دغه سړکونه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري پرانيستل شول. د دغو سړکونو له جوړېدو سره سم به په ښار کې ترافيکي ګڼه ګوڼه راکمه او سوداګريزې چارې به ګړندۍ شي. دا خپله کولای شي پر اقتصادي وده اغيز وکړي.

# د کابل – جلال اباد دوهم سړک جوړېږي



## سريزه

که چیرې یو هېواد غواړي اقتصاد یې پیاوړی شي، نو په کار ده چې د سوداګرۍ او ترانزیټ سکټور معیاري او غښتلی کړي. د دغه سکټور د پراختیا لپاره اړینه ده چې د ترانسپورټ ټولې شبکې لکه سمندري، هوایي، ځمکنۍ او ریل پټلۍ په ښه ډول ورغوي او په دغه برخه کې له ننني عصري سیستم څخه ګټه پورته کړي. افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو دی چې په مستقیم ډول اوبو ته لاسرسی نه لري او یوازې له هوایي، ځمکني او رېل پټلۍ شبکو څخه استفاده کوي. د سوداګرۍ او ترانزیټ د ودې او پرمختګ لپاره چې کوم معیاري ترانسپورټي سیستم ضروري دی، هغسې یو سیستم لا افغانستان نه لري. کومې لویې لارې او سړکونه چې پخوا جوړ شوي و، هغه پر افغانستان د بهرنیو د یرغلونو پرمهال ویجاړ او کنډ کپر شول. د اسلامي امارت مسوولینو اوس هڅه پیل کړې ده چې دغه برخه په معیاري ډول ورغوي او یا یې له سره جوړ کړي، څو وکولای شي خپله سوداګري پراخه او په دې برخه کې د خلکو ستونزو ته پای ورکړي. د کابل – جلال آباد دوهم سړک هم یو له هغو سړکونو څخه دی چې سوداګریز او ترانزیتي ارزښت یې لوړ او کولای شي پر مټ یې سوداګري پراختیا ومومي. د دغه سړک اهمیت ته په کتو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۱مه نېټه د کابل - جلال آباد دوهم لین سړک څخه لیدنه وکړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل - جلال آباد دوهم لین سړک د هېواد له مهمو سوداګریزو لارو څخه یاد کړ او ویې ویل چې د کابل – جلال آباد پر لومړي سړک په ورځني ډول سلګونه باروړونکي او مسافر وړونکي موټر تګ راتګ کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند


زياته کړه، د کابل - جلال آباد پر لومړي سړک د زياتې ګڼې ګوڼې او ځينې وخت د غره د ښويېدو له امله ترافيکي پېښې رامنځته کېږي، چې په پايله کې يې هېوادوالو ته ځاني او مالي زيانونه رسېږي. نو اړتيا ده چې د دغه سړک دوهم لين هم جوړ شي، څو ترافيکي پېښې راکمې، سوداګريز توکي په وخت انتقال او د هېوادوالو ژوند وژغورل شي. په پای کې محترم ملا صاحب د دغې لارې اهميت ته په کتو وويل چې د کابل – جلال آباد لويې لارې د دوهم سړک جوړولو پروژې د عملي چارو پيل يې په خپلو کاري لومړيتوبونو کې نيولی او د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله له منظورۍ وروسته به يې عملي چارې پيل شي.

## د کابل – جلال اباد د دوهم سړک جوړېدو موخه:

موخه يې د کابل – جلال آباد پر لومړي سړک د ترافيکي ګڼې ګوڼې راکمول، خلکو ته په دې برخه کې د اسانتياوو برابرول، د سوداګرۍ او ترانزيټ پراختيا ده.

**په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د کابل – جلال اباد د دوهم سړک جوړېدو» خبر يې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه گراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د کابل - جلال اباد دوهم سړک جوړېدو راپور يې په ویډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوگانې





#### ورځپاڼې





#### آژانسونه




## ویاندویان





## تویټرپاڼي




## ویب پاڼي





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګاني




### ورځپاڼې





### آژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

**موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو:** دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

**۱. دولتي رسنۍ:** د کابل – جلال اباد د دوهم سړک جوړېدو خبر په اړه په دولتي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او ټوېټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦٩٨ دی. د دغو نظرونو له جملې ٦٦٣ مثبت دي. ٢٦ منفي نظرونه او ۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۵ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه۱ ٪ دي.

**۲. خصوصي رسنۍ:** د کابل – جلال اباد د دوهم سړک جوړېدو خبر په اړه په خصوصي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د

خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۷۰ دی. د دغو نظرونو له جملې ۲۴۲ مثبت او ۲۱ منفي نظرونه دي او ۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۹۰٪، منفي نظرونه ۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۹۰ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۸ ده، خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۴ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۹۰۵ مثبت نظرونه، ۴۷ منفي نظرونه او ۱٦ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۳ ٪ مثبت نظرونه، ۵ ٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت باید د جلال آباد او کابل دوهم سړک باندې کار ژر شروع کړي، ځکه په لومړي سړک زیاتې ترافیکي پېښې رامنځته کېږي که چیرې دویم سړک جوړ شي، تر ډېره حده به د ترافیکي پیښو مخه ونیول شي.
- د کابل-جلال آباد د دوهم سړک په جوړېدو سره به د سوداګریز مالونو د چټک لیږد ترڅنګ خلکو ته په تګ راتګ کې هم اسانتیاوې رامنځته شي.
- د کابل- کندهار سړک چارې دې ګړندۍ شي، ځکه دا لاریوه مهمه لار ده او وسمهال د تګ راتګ پرمهال خلک له ستونزو سره مخ وي او هم سوداګریز توکي پر وخت تر منزله نه رسېږي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی**؛ یو شمېر هېوادوالو په نظرونو کې د کابل-جلال آباد د دوهم سړک د چارو د ژر پیل غوښتنه کړې ده او ویلي یې دي چې په جوړېدو به یې ددې لارې پر لومړي سړک د ترافیکي پیښو کچه راټیټه شي. سره له دې چې پر اسلامي امارت د نړیوالو لخوا په ډېرې برخو کې بندیزونه لګېدلي؛ خو د اسلامي امارت رهبرۍ او مسوولینو د دغو بندیزونو او

ستونزو باوجود هم د هېواد بيارغونې ته متې رانغښتې، شپه او ورځ هڅې کوي. د ترانسپورټ سکټور او په ځانګړي ډول د لويو لارو او سړکونو جوړول او بيارغونه چې اقتصادي خودکفايۍ ته د رسېدو لپاره يو مهم فکټور دی، اسلامي امارت ورته جدي پاملرنه کړې او عملاً يې د لويو لارو د جوړولو او بيارغونې کارونه پيل کړي دي. د کابل – جلال آباد دوهم سړک هم يو له مهمو سړکونو څخه دی چې په جوړېدو سره به يې د ترانسپورتي اسانتياوو تر څنګ سوداګريزې او ترانزيټي اسانتياوې هم رامنځته شي. په دې اړه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ويلي چې د کابل – جلال آباد پر لومړي سړک په ورځني ډول سلګونه بارورونکي او مسافر وړونکي موټر تګ راتګ کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړې، د کابل - جلال آباد پر لومړي سړک د زياتې ګڼې ګوڼې او ځينې وخت د غره د ښويېدو له امله ترافيکي پېښې رامنځته کېږي، چې په پايله کې يې هېوادوالو ته ځاني او مالي زيانونه رسېږي. نو اړتيا ده چې د دغه سړک دوهم لين هم جوړ شي، څو ترافيکي پېښې راکمې، سوداګريز توکي په وخت انتقال او د هېوادوالو ژوند وژغورل شي. اسلامي امارت د کابل – جلال آباد لويې لارې د دوهم سړک جوړولو پروژې د عملي چارو پيل په خپلو کاري لومړيتوبونو کې نيولی او د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله له منظورۍ وروسته به يې عملي چارې پيل شي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت ټولې هغه لويې لارې او سړکونه چې د خلکو ژوند پکې خوندي او سوداګري ورسره پراختيا مومي په خپلو لومړيتوبونو کې نيولي دي. نو که الله پاک کول د کابل- جلال اباد د دوهم سړک جوړېدو چارې به هم ډېرې ژر پيل او موږ تاسو به يې شاهدان يوو.

☜ **دويم**؛ ځينو خلکو بيا وړاندېز کړی چې که چېرې د کابل - کندهار لويې لارې د بيارغونې چارې ګړندۍ شي، له دې سره به له يوه لوري خلکو ته اسانتياوې رامنځته شي او له بل لوري به سوداګريز توکي پر وخت تر ځايه ورسيږي. په رښتيا چې دا يو مهمه لار ده او په رغېدو به يې د افغانستان له خاورې د ترانزيټ په کچه کې هم د پام وړ زياتوالی راشي، ځکه د يو معياري سړک په درلودو سره به بهرني سوداګر زړه ښه کړي چې خپل توکي د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته ورسوي چې په دې سره به افغان دولت ته د عوايدو يوه لويه منبع پيدا شي. خومره چې د افغانستان عوايد ډېرېږي، هومره ورسره ملي اقتصاد وده کوي. د افغانستان له خاورې او په ځانګړي ډول د کابل- کندهار لويې لارې څخه د ترانزيټ له امله به د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو سياسي، سوداګريزې او ترانزيټي اړيکې لا پراختيا ومومي. خومره چې د افغانستان سوداګريزې او ترانزيټي اړيکې له ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره زياتې او پياوړې وي، په هماغه کچه به يې ملي اقتصاد هم ورسره وده وکړي. اسلامي امارت هم په دې هڅه کې دی چې دغه لويه لاره ژر تر ژره ورغول شي. خو ددې لارې رغول يو څه وخت ته اړتيا لري، که نه دمګړۍ ددې لويې لارې په رغولو اته ودانيز شرکتونه بوخت دي. کارونه يې هم چټک روان دي او تر ډېره بريده يې کارونه پای ته رسېدلي هم دي.

## پایله

لویې لارې او سړکونه د یوه هېواد په سوداګرۍ او اقتصاد کې د ملا د تیر حیثیت لري. تر هغې چې معیاري سړکونه جوړ نه شي، یو هېواد نه شي کولای پرمختګ وکړي، ځکه د سړکونو له لارې له یوه لوري یو هېواد د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره نښلي او له بل لوري په ډېرې اسانۍ او کم وخت کولای شي خپل کرنیز محصولات او صنعتي تولیدات د نورو هېوادونو تر مارکیټونو پورې ورسوي. نو همدا لامل دی چې هېوادونه باید تر هر څه مخکې د سړکونو او لویو لارو جوړولو او رغولو ته پاملرنه وکړي. اسلامي امارت د سړکونو ارزښت ته په کتو دې برخې ته لومړیتوب ورکړی دی او دا مهال د افغانستان په زیاترو هغو لویو لارو کار روان دی چې سوداګریز او ترانزیټي ارزښت یې زیات دی. کابل- کندهار، د سالنګونو، هرات- غور او داسې نور سړکونه تر کار لاندې دي. دا دي د کابل- جلال اباد سړک د دوهم لین له پاره هم هلې ځلې پیل شوې دي. همدا چې د دې پروژې پلان او نور امکانات برابر شي، نو د جوړولو کار به یې پیل شي. له دې سره به د کابل- جلال اباد پر لومړي سړک ترافیکي ګڼه ګوڼه او ترافیکي پیښې راکمې او ترڅنګ به یې په سوداګرۍ او ترانزیټ کې د پام وړ پرمختګ رامنځته شي. د سوداګرۍ او ترانزیټ په پراختیا سره به د حکومت په عوایدو کې زیاتوالی راشي چې دا خپله بیا د ملي اقتصاد پر غوړېدو او پرمختګ مثبته اغیزه کوي.

# ملي تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا څلورو ميلياردو افغانيو په ارزښت ۱۴ پروژې منظورې کړې



## سريزه

افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی چې جګړو او ناخوالو سخت ځپلی دی. په جګړو کې يې ټولې زيربناوې له منځه تللې دي. کرنيز سکټور، د عامه خدمتونو او صنعت سکټور په ګډون لويې لارې، ستر پلونه، د اوبو کانالونه، د اوبو او برېښنا بندونه يې ويجاړ او يا هم سخت زيانمن شوي دي. د دغو برخو بېرته رغول د حکومتونو چاره ده، خو په تير کې چې کوم حکومتونه په افغانستان کې واک ته رسېدلي دي، د دغو برخو ته يې پاملرنه نه ده کړې او نه يې سر پرې ګرځولی دی. همدا لامل و چې د افغانستان زياتره زيربناوې هماغسې ورانې ويجاړې پاتې شوې. د اسلامي امارت په راتګ سره د اقتصادي چارو د ودې ترڅنګ زيربنا او د زيربنايي پروژو عملي کېدو ته پام اوښتی او په دې برخه کې تر دې مهاله پوره هلې ځلې شوې او لا هم روانې دي. په همدې موخه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډې ته چې د روان لمريز کال د غبرګولي مياشتې په ١٦مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۲۴ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې له جملې يې د ۱۴ پروژو قراردادونه منظور، د شپږو تعديل او د يوې پروژې قرارداد لغوه شو. همدا راز ملي تدارکاتو رياست ته دنده وسپارل شوه، څو د يوې بلې پروژې قرارداد بياځلې ازادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي او د دوو پروژو قراردادونه بيا په هراړخيز ډول و ارزوي او


خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي. په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کابل – کندهار لویې لارې د اساسي بیارغونې د پاتې چارو بشپړول، په مختلفو ولایتونو کې د افغانستان برېښنا شرکت اړوند د برېښنایي وسایلو چمتو کول، د کابل ښار ځینو مهمو سړکونو اساسي جوړول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي

## د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د شاوخوا ځلورو ملیاردو افغانیو په ارزښت د ۱۴ پروژو د منظورولو موخه:


موخه یې د زیربناوو او زیربنایي پروژو عملي کول او د افغانستان پرمختګ دی.

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ځلورو ملیاردو افغانیو په ارزښت د ۱۴ پروژو د منظورولو» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### يادونه:

پـه دغـه ګراف کـې پـه هغـو دولتـي او خصوصي رسـنيو کې د خلکـو د نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چې د ملي تدارکاتو کمېسـيون لـه لوري يې د شـاوخوا څلـورو ميليـاردو افغانيو پـه ارزښـت د ۱۴ پـروژو منظورولـو راپـور يـې پـه ويډيويـي، غږيـزه او چاپـي بڼه خپـور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوګانې





#### ورځپاڼې





#### آژانسونه




## ویاندویان




## تویټرپاڼې





## په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې تېولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې تېولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

**موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:**

**۱. دولتي رسنۍ:** ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا څلورو میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۱۴ پروژو د منظورولو خبر په اړه په دولتي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ټویټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦٩٩ دی. د دغو نظرونو له جملې ٦٦١ مثبت دي او ۲٦منفي نظرونه او ۱۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۵ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه۱ ٪ دي.

**۲. خصوصي رسنۍ:** ملي تداركاتو كمېسيون د شاوخوا څلورو ميلياردو افغانيو په ارزښت د ۱۴ پروژو د منظورولو خبر په اړه په خصوصي رسنيو لكه تلويزيونونو، راډيوګانو او خبري اژانسونو كې د خلكو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو كې د خلكو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۱۵۱ دی. د دغو نظرونو له جملې ۱۳٦ مثبت او ۱۰ منفي او همدارنګه پنځه سالم وړانديزونه دي چې په جدول كې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۹۰٪، منفي نظرونه ۷ ٪ او سالم وړانديزونه ۳ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنيو كې د خصوصي رسنيو په پرتله د خلكو د مثبتو نظرونو سلنه زياته ده. په دولتي رسنيو كې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵ او په خصوصي رسنيو كې دا سلنه ۹۰ ده. خو په خصوصي رسنيو كې بيا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو كې د منفي نظرونو سلنه ۷ او په دولتي رسنيو كې دا سلنه ۴ ده. كه په دولتي او خصوصي رسنيو كې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع كړو، په ټوله كې ۷۹۷ مثبت نظرونه، ۳٦ منفي نظرونه او ۱۵ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۴ ٪ مثبت نظرونه، ۴ ٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبكو كې د خلكو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو كې مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو، ځكه د ټولو نظرونو يادونه د ليكنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه نه بلكې سلګونو ته رسېږي.

- د كابل اړوند د شاتوت بند د دغه ښار له پاره حياتي ارزښت لري، نو بايد كار يې پيل شي.
- د لوګر سړک منظوري شپږ مياشتې وړاندې راغلې خو لا يې كار نه دی پيل شوی.
- د ننګرهار ولايت د پچيراګام ولسوالۍ ته غځېدلی سړک چې يو څه يې جوړ شوی خو لس كيلومتره يې نه دي جوړ، د دغه پاتې سړک جوړولو ته دې مشران پاملرنه وكړي.
- ترڅو چې په افغانستان كې د دغه هېواد د اړتيا وړ برېښنا توليد نه شي، نه صنعت پرمختګ كوي او نه يې نور سكټورونه پراختيا موندلی شي. ښه به دا وي چې لومړی د برېښنا د توليد له پاره كار وشي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبكو كې د خلكو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی؛** يو شمېر د نظر خاوندانو په خپلو نظرونو كې د كابل د شاتوت بند د كار د پيل غوښتنه كړې ده او ويلي يې دي چې دا بند د كابل ښار له پاره ډېر اهميت لري. اوبه د بشري ژوند يو مهم عنصر دی چې د ښارونو په پراختيا او

پرمختګ کې يې ارزښتناک رول لوبولی دی. د بشر ژوند او د ښارونو پراختيا او پرمختګ په اوبو پورې تړلي دي. له دې امله زياتره هېوادونه په دې هڅه کې دي چې وکولای شي د اوبو د کمښت کړکېچ مهار کړي. په بېلابېلو هېوادونو کې د ښاري اوبو د مديريت له پاره نوې تګلارې تجربه شوې دي او هڅه داده چې داسې لارې چارې ولټول شي، څو له مخې يې ښاري اوبه په سم او معياري ډول مديريت او د اوبو د کمښت ستونزې ته پای ورکړل شي. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره دې برخې ته پوره پاملرنه شوې ده. د اسلامي امارت لومړی ګام دا و چې په کابل ښار او شاوخوا سيمو کې يې د ژورو څاګانو په کيندلو بنديز ولګاوه او اوسمهال چاته ددې اجازه نه ورکول کېږي چې په خپل سر داسې څاګانې وباسي. دويمه دا چې د خوړو په مقابل کې د کار يوه پروژه چې د نړيوالو مرستندويه ټولنو له لوري پلې کېږي د هغې يې پوره ملاتړ وکړ. دغه راز يې د ځينو هېوادونو له لوري د مرسته شويو غنمو په مقابل کې خپله اسلامي امارت دغه پروژه د ښار په يو شمېر سيمو کې عملي کړه. په دې پروژه کې د کابل او شاوخوا ولسواليو کې د غرونو په لمنو او غونډيو کې زابرونه و ايستل شول چې پر مټ يې د واورې او باران اوبه زېرمه او تر ځمکه لاندې اوبو په تغذيه کې رغنده رول لوبولی شي. ددې ترڅنګ اسلامي امارت د بندونو جوړولو ته مخه کړې ده. د کابل اړوند د شاه و عروس د اوبو بند چارې بشپړې شوې دي چې د کابل ښار اوسيدونکو ته د څښاک د اوبو برابرولو ترڅنګ کرنيزې ځمکې هم خړوبوي. دغه راز مونږ او تاسو وينو چې د هېواد په نورو ولايتونو کې د اوبو د بندونو د جوړولو او رغولو چارې روانې دي. څه موده وړاندې د هرات د پاشدان بند د پاتې چارو پروژه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانستل شوه. هغه مهال حاجي ملا صاحب د خپلو خبرو پرمهال وويل چې په هېواد کې د هغو بندونو چې چارې يې نيمګړې پاتې دي، د چارو بشپړولو په موخه يې ارزونې ترسره شوې دي او په خپل وخت به يې چارې پيل شي. نو له دغو څخه جوته شوه چې په دې بندونو کې د شاتوت بند هم شته او دا بند به هم ورغول شي.

☜ **دويم؛** ځينو خلکو د لوګر سړک او د ننګرهار ولايت د پچيراګام ولسوالی ته د غځيدلي سړک د جوړولو غوښتنه کړې ده. د لوګر سړک يو له مهمو سړکونو څخه دی چې کابل له پکتيا او خوست ولايتونو سره نښلوي او دا يوه سوداګريزه او ترانزيټي لاره هم ده. د داسې لارو جوړول د اسلامي امارت په لومړيتوبونو کې ځای لري. مونږ او تاسو وينو چې د هېواد په کچه د هغو ټولو لويو سوداګريزو او ترانزيټي لارو د رغونې چارې روانې دي چې کولای شي، د هېواد سوداګري او ترانزيټ ورسره پرمختګ وکړي. د کابل- کندهار، د سالنګونو، هرات- غور او دغه راز نور هغه سړکونه او لارې دي چې د بيارغونې چارې يې په عملي ډول پيل شوې دي. د لوګر سړک د جوړولو منظوري هم ورکړل شوې. د بوديجې او امکاناتو په برابرېدو سره به يې عملي چارې هم پيل شي. په يوه وخت د هېواد د ټولو لويو لارو او سړکونو جوړول زياتې بوديجې ته اړتيا لري، نو ځکه خو اسلامي امارت وخت پر وخت او يو په بل پسې دداسې سړکونو او لويو لارو عملي چارې پيلوي. دا چې ځينو خلکو په خپلو نظرونو کې د ننګرهار پچيراګام ولسوالۍ سړک د جوړېدو غوښتنه کړې ده. د اسلامي امارت په راتګ سره د لويو لارو ترڅنګ ولايتونو او د ولايتونو له مرکزونو څخه ولسواليو ته د غځېدلو زياترو سړکونو د بيارغونې چارې هم پيل شوې دي. خو لومړيتوب هغو ولسواليو ته ورکړل شوی دی چې خلک يې د تګ

راتګ پرمهال له زیاتو ستونزو سره مخ دي. د پچیراګام ولسوالۍ سړک خو له نیمایي زیات قیر دی، یوه کمه اندازه یې جوړ دی خو لا قیر شوی نه دی. اسلامي امارت به د امکاناتو په برابرېدو سره پر دغه سړک هم کار پیل کړي او پاتې برخه به یې قیر شي.

☜ **دریېیم**؛ یو شمېر کسانو بیا په خپلو نظرونو کې د برېښنا اړتیا ته په اشارې سره ویلي چې تر هغې د هېواد د اړتیا وړ برېښنا چمتو نه شي، نه صنعت او نه هم نور سکټورونه پرمختګ کولای شي. دا سمه ده چې د برېښنا کمی د افغانستان لویه او دوامداره ستونزه ده او تر دې دمه په بشپړ ډول دې ستونزې ته پای نه دی ورکړل شوی. افغانستان پرېمانه رواني اوبه او د برېښنا د تولید له پاره سرچینې لري خو په هېواد کې د څو لسیزو جګړو او زموږ پر هېواد د بهرنیو یرغلګرو د یرغلونو له امله افغانان نه دي توانېدلي، چې له خپلو روانو اوبو او نورو سرچینو څخه د برېښنا په تولید کې ګټه واخلي. په افغانستان کې د امریکایي اشغال له پای ته رسیدو او د افغانستان اسلامي امارت له بیا حاکمېدو سره، د نورو برخو په شان د برېښنا په برخه کې هم د شته ستونزو د حل په موخه هلې ځلې پیل شوې دي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه داده چې د برېښنا په برخه کې هېواد پر ځان بسیا کړي او نور د هغو پیسو مخه ونیسي چې د برېښنا په بدل کې ګاونډیو هېوادونو ته ورکول کېږي. له تېرو څه کم دوو کلونو راهیسې په دې برخه کې ځینې مهم ګامونه اخیستل شوي دي، چې له هغې ډلې څخه د کمال خان بند، د بخش اباد بند، د شاه و عروس بند، د سروبي دویم بند، پاشدان بند، د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ کې د ۲۳ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژه او دغه راز د ډېرو له سکرو باد څخه د برېښنا د تولید پروژو په برخه کې له ځینو بهرنیو کمپنیو سره خبرې شوې دي چې په بشپړېدو سره به یې د برېښنا په برخه کې شته ستونزې تر ډېره بریده حل شي. له دې سره به بیا زموږ صنعت او نور سکټورونه پرمختګ وکړي او دغه ټکي ته اسلامي امارت پوره پاملرنه کړې ده.

## پایله

هر هېواد چې غواړي پرمختګ وکړي، نو په کار ده چې خپلې زیربناوې جوړې کړي. پرته د زیربناوو له رغولو او جوړولو ناشونې ده چې د هېواد هغه سکټورونه دې چې کولای شي د هېواد پرمختګ او ترقي تضمین کړي، وده او پراختیا ومومي. افغانستان چې کلونه جګړه یې تجربه کړې ده، له امله یې ټولې هغه زیربناوې چې پخوا رغېدلې وې له منځه ولاړې او نوې هغه خو هسې یو خیال و. همدا لامل و چې افغانستان د پرمختګ پر ځای شاتګ کاوه. خو اوس چې په افغانستان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې یو مرکزي او پیاوړی حکومت رامنځته شوی، د زیربناوو اهمیت ته په کتو یې دې برخې ته پوره پاملرنه کړې ده. د هېواد زیاتره لویې لارې، بندونه او کانالونه یې رغولي، د برېښنا تولید، صنعت، کرنې، د کانونو استخراج او داسې نورو ته یې مخه کړې ده او غواړي له دې لارې د هېواد پرمختګ حتمي او اقتصاد یې غښتلی کړي. په همدې لړ کې اسلامي امارت د رغنیزو او بنسټیزو پروژو د پیل او په دې پروسه کې د چټکتیا او شفافیت په موخه لومړی

د ملي تدارکاتو کمېسیون رامنځته کړ او اوس د همدغه کمېسیون له لارې بېلا بېلې پروژې منظورې او عملي کېږي. په دې وروستۍ غونډه کې د څلورو میلیاردو افغانیو په ارزښت ۱۴ پروژې منظورې شوې. په دغو پروژو کې د کابل – کندهار لویې لارې د اساسي بیارغونې د پاتې چارو بشپړول، په مختلفو ولایتونو کې د افغانستان برېښنا شرکت اړوند د برېښنایي وسایلو چمتو کول، د کابل ښار ځینو مهمو سړکونو اساسي جوړول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي. که د افغانستان د رغونې چارې همداسې روانې وي، لرې نه ده چې په لنډ وخت کې به افغانستان یو آباد، پرمختللی هېواد او اوسیدونکي به یې د ژوند له هر ډول اسانتیاوو برخمن ژوند ولري.

# له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق پرانیستل شو




## سریزه

د هېواد په اقتصاد کې د خصوصي سکټور ونډه غښتلې ده او د دولتي مالیې زیاته اندازه هم له دې لارې برابرېږي. خصوصي سکټور خلکو ته د کار او ګټور فعالیت امکانات برابروي اوپرته له دې به ډېری خلک بې کاره پاتې شي. که چیرې د خصوصي سکټور لپاره امکانات برابر شي؛ نو په دې صورت کې د سالمو سیالیو له لارې ددې امکان شته چې هېواد د تولیداتو په برخه کې پر ځان متکي شي. د خصوصي سکټور اهمیت ته په کتو اسلامي امارت د دغه سکټور بشپړ ملاتړ کړی او تر ډېره بریده یې د دوی له پاره اسانتیاوې رامنځته کړې دي. په همدې لړ کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۱۷مه نېټه له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ په موخه جوړ شوی صندوق پرانیستل شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ او هغو ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو په برخه کې د دغه صندوق رامنځته کول مهم وبلل او ویې ویل، چې په دې سره به د خصوصي سکټور د ملاتړ ترڅنګ د سوداګرۍ، ترانزیټ، صنعت او کورنیو تولیداتو د ودې او پرمختګ بهیر ګړندی او دغه راز به هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت ته له خصوصي سکټور څخه ملاتړ، کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینې برابرول او د کورني صنعت پرمختګ لومړیتوب لري او په همدې موخه


د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله له لوري مالياتي جريمې او پر اصنافو او کسبګرو ثابتې ماليې معاف او تخفيف ورکړل شوي. همدا راز د شرکتونو د تضميناتو، تاميناتو او طلباتو ورکړه هم پيل شوې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق د پرانيستې مراسمو ته وويل، اسلامي امارت د کورنيو توليداتو د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې، چې هغه په کور دننه توليدېږي او د خلکو اړتياوې پوره کولی شي. همدا راز د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د خصوصي سکتور له استازو وغوښتل چې خپل فعاليتونه د منل شوو معيارونو په نظر کې نيولو سره لا ګړندي او په ښه کيفيت ترسره کړي. له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق د پروژو د پلي کېدو لپاره د ډاډمنې مالي سرچينې پيدا کولو، د کورنيو توليداتو معياري کولو اړوند پروګرامونو د مالي ملاتړ، د ملي او نړيوالو نندراتونونو په جوړولو کې د همکارۍ، د صادراتو لپاره د ځانګړو مرکزونو جوړولو، د خصوصي سکتور د ملي او مؤثرو پروګرامونو او د خصوصي سکتور د نورو برخو د مالي ملاتړ په موخه جوړ شوی، چې د خصوصي سکتور له لوري يې تود هرکلی وشو.

## له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق د پرانيستلو موخه:

موخه يې د خصوصي سکتور پرمختګ او دغه سکتور ته د اسانتياوو برابرول دي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق د پرانيستلو» خبر يې خپور کړی دی:**


### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

پـه دغـه ګراف کـې پـه هغو دولتـي او خصوصي رسـنیو کې د خلکـو د نظرونـو سـلنه ښـودل کېږي چـې لـه خصوصي سـکټور څخـه د ملاتـړ صنـدوق د پرانیسـتلو راپـور یـې پـه ویډیویـي، غږیـزه او چاپـي بڼـه خپور کـړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: دولتي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼې





#### آژانسونه




## ویاندویان




## ټویټرپاڼې





## په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلويزيونونه





## راډیوګانې



## ورځپاڼې





## آژانسونه





## ويب پاڼې




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

### موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

**۱. دولتي رسنۍ:** له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق د پرانیستلو خبر په اړه په دولتي رسنیو لکه تلویزیونونو، راډیوګانو، ویاندویانو، ورځپاڼو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۲۷۵ دی. د دغو نظرونو له جملې ۱۲۲۹ مثبت دي او ۳۵منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۶ ٪، منفي ۳ ٪ او سالم وړاندیزونه۱ ٪ دي.

**۲. خصوصي رسنۍ:** له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق پرانیستلو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۸۳ دی. د دغو نظرونو له جملې ۳۴۲ مثبت او ۲۸ منفي نظرونه او ۱۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۹٪، منفي نظرونه ۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۶ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۹ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۷ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۳ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۵۷۱ مثبت نظرونه او ۶۳ منفي نظرونه او ۲۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۵ ٪ مثبت نظرونه، ۴ ٪ منفي نظرونه او ۱ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو؛ ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونه نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د دغه صندوق پرانیستل د ستاینې وړ اقدام دی او دا به د خصوصي سکټور د ودې لامل وګرځي.
- که چیرې موږ د انرژۍ په برخه کې خودکفا شو، له دې سره به د افغانستان ډیرې ستونزې هوارې شي.
- له سیمې او نړۍ سره د اسلامي امارت مثبت تعامل زموږ د هېواد له پاره یو غوره سیاست دی.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی**؛ یو شمېر کسانو په خپلو نظرونو کې د دغه صندوق پرانیستل ستایلي او ویلي یې دي چې دا به د خصوصي سکټور د ودې لامل وګرځي. په رښتیا هم خصوصي سکټور ته وده ورکول د یوې ټولنې د اقتصاد په غوړېدو کې رغنده رول ترسره کولی شي. په دې مانا چې د ټولنې د اقتصادي ودې د لارو چارو، د سالم رقابت د رامنځته کېدو لامل ګرځي، د صنعتي تولیداتو څرنګوالي ته مثبت بدلون ورکوي او د سیمې د هېوادونو تر منځ د زیاتو سوداګریزو اړیکو د ټینګېدو امکانات رامنځته کوي. دغه راز که خصوصي سکټور وده وکړي، نو د هېواد د زیاتو وګړو لپاره د کارموندنې سبب کیږي او اقتصادي بنسټونه د غوره معیار په لوړي ګړندي ګامونه پورته کوي. له بلې خوا د خصوصي سکتور د ودې په صورت کې پیاوړی، کاري او مسلکي پرسونل په کار ګومارل کیږي. په لنډ ډول ویلای شو چې د خصوصي سکټور وده په یوه ټولنه کې زیاتې ښېګڼې رامنځته کولی شي او د ژوند د بهتره اقتصادي سیستم په پیاوړي کولو کې مرسته کوي. اسلامي امارت د خصوصي سکټور اهمیت ته په کتو سره د دغه سکټور له پاره د اسانتیاوو په رامنځته کولو کې رغنده ګامونه پورته کړي دي. لکه څنګه چې په همدې خبر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ او هغو ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو په برخه کې د دغه صندوق رامنځته کول مهم وبلل او ویې ویل، چې په دې سره به د خصوصي سکټور د ملاتړ ترڅنګ د سوداګرۍ، ترانزیټ، صنعت او کورنیو تولیداتو د ودې او پرمختګ بهیر ګړندی او دغه راز به هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي. د دغه صندوق د جوړېدو یوازینۍ موخه هم همدا ده.

☜ **دویم**؛ ځینو هېوادوالو بیا د انرژۍ برخې ته اشاره کړې ده او ویلي یې دي چې که موږ په دې برخه کې پر ځان بسیا شو نو له ډېرو ستونزو سره به مخه ښه وکړو. دا سمه ده چې د برېښنا کمی د افغانستان لویه او دوامداره ستونزه ده او تر دې دمه په بشپړ ډول دې ستونزې ته پای نه دی ورکړل شوی. افغانستان پرېمانه روانې اوبه او د برېښنا د تولید له پاره سرچینې لري؛ خو په هېواد کې د څو لسیزو جګړو او زموږ پر هېواد د بهرنیو یرغلګرو د یرغلونو له امله افغانان نه دي توانېدلي، چې له خپلو روانو اوبو او نورو سرچینو څخه د برېښنا په تولید کې ګټه واخلي. د اسلامي امارت په راتګ سره په دې برخه کې ځینې مهم ګامونه اخیستل شوي دي، چې له هغې ډلې څخه د کمال خان بند، د بخش اباد بند، د شاه و عروس بند، د سروبي دویم بند، پاشدان بند، د کابل ولایت د سروبي په ولسوالۍ کې د ۲۳ میګاواټه لمریزې برېښنا پروژه او دغه راز د ډېرو له سکرو او باد څخه د برېښنا د تولید پروژو په برخه کې له ځینو بهرنیو کمپنیو سره خبرې شوې دي چې په بشپړېدو سره به یې د برېښنا په برخه کې شته ستونزې تر ډېره بریده حل شي. نو له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت ټول تمرکز پر دې کړی چې د برېښنا په برخه کې افغانستان خودکفایۍ ته ورسوي.

☜ **دریېم**؛ یو شمېر کسانو له سیمې او نړۍ سره د اسلامي امارت مثبت تعامل د هېواد له پاره ګټور بللی دی. اسلامي امارت هڅه کوي چې له نړۍ، سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره خپلې سیاسي، اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ټینګې او

له دې لارې سیاسي، اقتصادي، سوداګریزې او نورې برخې پیاوړې کړي. په دې برخه کې لومړی له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو لړۍ پیل شوې ده. په دغو هېوادونو کې د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او یو شمیر نور هېوادونه شامل دي. د اړیکو په دې سلسله کې یو شمیر هېوادونه دي ته چمتو شوي دي چې له اسلامي امارت سره د ډیپلوماټیکو اړیکو ترڅنګ سوداګریزې اړیکې پراخې کړي. دا لړۍ لا هم روانه ده. کله چې اسلامي امارت واک ته ورسېد، نو د سیمې او نړۍ له زیاترو هېوادونو سره دا اندېښنه موجوده وه چې اسلامي امارت به څه ډول بهرنۍ سیاست غوره کړي او څنګه به وکولای شي چې له نورو هېوادونو سره خپلې سیاسي او اقتصادي اړیکې ټینګې کړي. خو اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سیاست په غوره کولو سره دا ټولې اندیښنې له منځه یوورې. له دې وروسته د سیمې په ګډون د نړۍ یو شمیر هېوادونو له افغانستان سره سیاسي او اقتصادي تعامل ته مخه کړه. همدا اوس په یو شمېر هېوادونو کې د افغانستان سیاسي نماینده ګۍ فعالې دي او دلته په کابل کې هم یو شمیر هېوادونو خپل سفارتونه پرانیستي دي. بله دا چې د اسلامي امارت مسوولینو تل په خپلو خبرو کې ویلي دي چې اسلامي امارت د سیمې هېوادونو په ګډون د نړۍ له ټولو هېوادونو سره مثبت او په متقابل درناوي ولاړ تعامل ته چمتو دی.

## پایله

په دې کې شک نه شته چې خصوصي سکټور د یوه هېواد په اقتصادي وده او پرمختګ کې مهمه ونډه لري. دغه سکټور په بېلا بېلو سکټورونو کې د پانګونې ترڅنګ خلکو ته د کار زمینه هم برابروي. نو حکومتونو ته په کار ده چې د خصوصي سکټور بشپړ ملاتړ وکړي او هغو ته په هره برخه کې اسانتیاوې برابرې کړي. په دې سره د هېواد د ترقۍ له پاره لار هوارېږي. اسلامي امارت د خصوصي سکټور اهمیت ته په پاملرنې سره د دغه سکټور له پاره اسانتیاوې رامنځته کړې دي او ملاتړ یې کوي. د خصوصي سکټور د ملاتړ صندوق جوړېدو یوازینۍ موخه همدا ده چې خصوصي سکټور په پښو ودروي. د دغه صندوق په پرانیستغونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې اسلامي امارت ته له خصوصي سکټور څخه ملاتړ، کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینې برابرول او د کورني صنعت پرمختګ لومړیتوب لري او په همدې موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له لوري مالیاتي جریمې او پر اصنافو او کسبګرو ثابتې مالیې معاف او تخفیف ورکړل شوی. همدا راز د شرکتونو د تضمیناتو، تامیناتو او طلباتو ورکړه هم پیل شوې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق د پرانیستې مراسمو ته وویل، اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې، چې هغه په کور دننه تولیدېږي او د خلکو اړتیاوې پوره کولی شي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي خصوصي سکټور دې ته وهڅوي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي، صنعت ته وده ورکړي، کرنه میکانیزه او زیربنایي پروژې عملي کړي په دې سره به د افغانستان اقتصادي وده ګړندۍ او هیواد به د صنعتي کېدو په لور روان شي.

Deputy PM for Economic Affairs Office

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

dpmea.gov.af @FDPM_AFG fdpm_afg